محمد ﷺ خاتم النبيين - بشتو

# آخرے نبی

صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم




جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

243

جمعية الدعوة بالزلفي

# محمد ﷺ آخرنے نبی

## محمد ﷺ خاتم النبيين - بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# محمد ﷺ خاتم النبيين

أعده وترجمه الي اللغة البشتو

جمعية الدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ١٤٤٣/٨هـ


(ح) المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

محمد ﷺ خاتم النبيين - الزلفي، ١٤٣٩هـ

ردمك: ٥-١٤-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١- محمد ﷺ خاتم النبيين ٢- السيرة النبية أ- العنوان

ديوي ٢٣٩ ١٤٣٩/٦٣٦٠

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٦٠

ردمك: ٥-١٤-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

## د خوږ نبي كريم ﷺ د ژوند مختصر حالات
## د نبوت نه مخكښې د عربو حالت

پدې دور كښې د عربو مشهور دين بت پرستي وه ځكه چې عربو ديني ابراهيمی پريښودلی وو او بت پرستۍ كښې أخته شوی وو، دی دور ته د جاهليت دور وئيلۍ شی ، د الله تعالی نه علاوه چې د كومو بتانو عبادت كيدو د هغې نومونه دادی: لات، عزی ، مناة ، او هُبل ، د بعضو عربو دين يهوديت ، عيسائيت او مجوسيت هم وو، ډير لږ خلق په ملت ابراهيمی باندی قائم وو .

### د ژوند د تيرولو اسباب

اكثر به خانه بدوش وو صحراؤنو كښې اوسيدل او عام څاروی ساتل او د هغوی څرول ئې كسب وو او كلو ښارونو كښې اوسيدونكی خلق زميدارۍ او تجارت كښې مشغوله وو، د اسلام د راتللو نه مخكښې مكه مكرمه د جزيره عرب دپاره دتجارت لوي مركز وو، طائف او مدينه مشهور ښارونه وو، پدی معاشره كښې ظلم او زياتی ډير وو، د كمزورو حق

چا نه منلو، ژوندۍ ماشومې جینکۍ به ئے په زمکه کښې خاښولی ، عزتونه به لوټ کیدل ، زورور به د کمزورو حق په زبردستۍ سره خوړلو، بے شماره ښځو سره به نکاح کیدله، زنا عام رواج وو، په وړه وړه خبره به د قبیلو ترمینځ جنګونه کیدل، کله به یو قبیلۍ خپل مینځ کښې جنګ کولو، دا د اسلام د راتللونه مخکښې د جزیره عربي مختصر غونډي تصویر دي .

## د ذبیحینو (دوه حلال شوی) کسانو ځوي

تولو قریشو به د عبد المطلب په مقابله کي په خپلو اولادو او مالدارۍ سره فخر کولو نو ددی وجی نه عبد المطلب یوه ورځ نذر منلۍ وو چی که چرته الله تعالی ماله لس (۱۰) نارینه بچی راکړل، نو زه به پکښې یو د خپلو معبودانو د رضا کولو دپاره ذبح کوم ، د عبد المطلب دا آرمان پوره شو، الله تعالی ورله لس (۱۰) نارینه اولاد ورکړل چی یو پکښې د نبي کریم ﷺ پلار عبد الله هم وو، کله چی عبد المطلب خپل نذر پوره کول وغوښتل ، نو دځامنو ترمینځ ئی قرعه اندازی (خسنړی) وکړه ، نو د عبد الله نوم راووتلو ، عبدالمطلب

چې کله د عبد الله د ذبح کولو اراده وکړه ، نو خلق راجمع شول چې عبد المطلب ددی کار نه منع کړی ، هسی نه چې دا کار په خلقو کښې رواج جوړ نه شی ، بالآخر پدی فیصله وشوه چې د عبد الله او د لسو (۱۰) اوښانو ترمینځ به قرعه واچوی ، پدی طریقه به دا د عبد الله فدیه جوړه شی ، قرعه ئے چې واچوله نو د عبدالله نوم راواخلو ، نو هغوی د اوښانو عدد دوچنده کړلو ، بیا هم د عبد الله نوم راوختلو ، پدی طریقه ئے اوښان ډیرول ډیرول او قرعه کښې به د عبدالله نوم راوختلو تر دی چې د اوښانو تعداد سل (۱۰۰) ش و، نو بیا د اوښانو نوم راوختلو ، عبد المطلب سل اوښان ذبح کړل د عبدالله په فدیه کښې ، د نورو ځامنو په نسبت عبد الله پلار ته ډیر ګران وو، او خاصکر د سلو اوښانو د فدئی نه پس ئے ورسره ډیره مینه کوله ، عبدالمطلب د خپل ځوی عبد الله دپاره د بنی زهره قبیلۍ د یوه جینۍ آمنه بنت وهیب انتخاب وکړو ، او د هغی سره ئے ورله نکاح وکړه ، آمنه بی بی حامله شوله ، ددی د حمل نه دری میاشتی پس عبد الله د تجارتی قافلۍ سره د شام په طرف روان شو ، واپسۍ کښې بیمار شو،

چونکې بنی نجار دده ماماګان وو مدينه کښې نو هلته ايسار شو تردی چې وفات شو او هلته دفن شو.
دحمل ورځې پوره شوی او نبي کريم ﷺ دګل په ورځ (يوم الاثنين) باندی و زيږی دو ، البته د تاريخی اختلاف د وجی نه د نبي کريم ﷺ د پيدائش صحيح مياشت او ورځ معلومه نده ، د يو روايت مطابق د نبي کريم ﷺ پيدائش په(۹) نهم ربيع الاول باندی شوی دی ، د دوهم روايت مطابق(۱۲) دولسم ربيع الاول دی ، د دريم روايت مطابق رمضان کښې پيدا شويدی ، ددی نه علاوه هم نور روايتونه موجود دی ، دا واقعه ۵۷۱ء کښې راغلی وه ، دغه کال ته (عام الفيل) هم وائی، پدی کال باندی أبرهه د هاتيانو سره په مکه حمله کړی وه چې الله ذليله کړی وو.

## د هاتيانو واقعه

يمن کښې د نجاشی بادشاه د طرفنه ګورنر أبرهه وکتل چې عرب مکې مکرمی ته ځی ، او د کعبی شريفی طواف کوی ، او حج کوی ، د هغی عزت کوی ، او د لری لری نه ورته خلق راځی ، نو ده په صنعاء کښې يوه لويه کليسه جوړه کړه ، دی

دپاره چې خلق د مکې مکرمې په ځائې د حج دپاره صنعاء ته راځې ، د کنانه قبيلې يو سړی خبر شو هغه د شپې لاړو او دغه کليسې ته ورداخل شو ، او د هغې ديوالونه ئې په لوئې اودس ماتې باندې ګنده کړل ، هرکله چې ابرهه ددې خبرې نه خبر شو نو د غصې نه لمبه شو ، او شپيته زره (٦٠٠٠٠) لښکر ئې تيار کړو ، او ورسره نهه (٩) هاتيان وو ، دا لښکر د مکې مکرمې په لورې روان شو ، چې خانه کعبه ونړوی ، د ټولو نه غټ هاتې ئې د خپل ځان د استعمال دپاره خاص کړو ، چې دا لښکر د مکې مکرمې خواء ته وررورسيدو نو لږ هيسار شو او بيا ئې مکې مکرمې ته د داخليدو حکم ورکړو، ليکن هغه غټ هاتې کيناستو ، او مخکښې نه تللو کله چې بل طرفته ورله مخ کړو نو په تيزئ سره به تللو، ليکن چې کله به ئې ورله مخ د خانه کعبې طرفته واړولو نو کيناستلو به او مخکښې به نه تللو ، دا خلق پدې پريشانئ کښې وو ، چې الله تعالی د مارغانو يو لښکر راوليږلو چې په جهنم کښې پاخه شوو کاڼړو باندې ئې ويشتل ، د هر مارغه سره درې درې کاڼړی وو ، يو په مخوکه کښې او دوه په پنجو کښې ، د چڼړې د دانې په مقدار يو يو کاڼړی وو ، څوک چې به په

کانړی ولګیدو د هغه اندامونه به رژیدل ، او بالآخر به مړ شو ، د مکې مکرمی قريش يو طرفته او بل طرفته تختيدلى وو، ځوک په غرونو کښې پټ شوی وو، چې ددی غټ لښکر نه ځان بچ کړی هرکله چې ورته معلومه شوله چې د لښکر ډیر بد حال دی نو پوره په امن سره خپلو کورونو ته راغلل ، دا واقعه د نبي کريم ﷺ د پيدائش نه تقريبا (٥٠) ورځې مخکښې رامینځ ته شوی وه .

## د نبي کريم ﷺ پالنه او رضاعت (تئے رودل)

نبي کريم ﷺ د پيدائش نه پس د ابولهب وينځې (ثُويبه )ورله پئ ورکول ، ددی نه مخکښې د نبي کريم ﷺ تره حمزه بن عبد المطلب رضى الله عنه له ئے هم پئ ورکړی وو ، ددی وجی نه حمزه رضى الله عنه د نبي کريم ﷺ رضاعی ورور هم وو ، د عربو دا طريقه وه چې ماشوم به پيداء شو نو بانډو ته به ئے د پيوو دپاره ليږلو چي قوي بدن ئے جوړ شي ، او صحيح تربيت ئے وشی ، او فصيحه عربي ياده کړی، ددي مقصد دپاره نبي کريم ﷺ هم بانډو ته نقل شو، په دغه وخت کښې د بنی سعد قبيلئ زنانه مکے ته د ماشومانو دپاره راغلى وی ،

ټولو زنانو نبي كريم ﷺ پرېښودلو ځکه چې يتيم دی ، حليمې سعدیې هم اول پرېښودو ليکن داسې يو ماشوم ئے پيداء نه کړو چې د دوی د غريبۍ بوج کم کړی ، دوباره نبي کريم ﷺ ئے په کمه مزدورۍ باندې د ځان سره واغستلو ، او کور ته ئے راوستلو ،

حليمه د خپل خاوند سره يو کمزوری خره باندې مکې مکرمې ته راغلې وه ، واپسۍ کښې د حليمې بی بی په غېږه کښې محمد رسول الله ﷺ دی ، دغه کمزوری خره تيز تيز منزل کوی، تردې پورې چې د ټولو سورلو نه مخکښې شوله ، ټولو ملګرو ورته تعجب کوو، حليمه بی بی بيان کوی چې زما سينو کښې پۍ نه وو، زما خپل ځوی به هم د لوږې د وجه نه ژړل، د کله نه مې چې نبي کريم ﷺ ته پۍ ورکول شروع کړل، زما په سينو کښې ډير پۍ پيداء شول بيا فرمائي چې په بنی سعد قبيله کښې خشک سالی وه، د کله نه چې دا مبارک بچۍ دی زمکے ته د پيوو دپاره راوستلی شو نو دا زمکه سرسبزه شوله، څاروی ساربه شول، او حالت ئے خائسته شو، نبي کريم ﷺ د حليمې سره دوه کاله تير کړل،حليمې به ددې ماشوم ډير خيال ساتلو ، دوه کاله تيريدو نه پس حليمې نبي

كريم ﷺ د ځان سره كړو، او د خپل مور او نيكه خواله ئے مكے مكرمى ته راوستلو، چونكه حليمى دنبى كريم ﷺ بركت ليدلى وو ، نو د آمنه  بى بى نه ئے دوباره مطالبه وكړه چى محمد ﷺ به دوباره زما سره اوسيږى، آمنه  بى بى ددى خبره ومنله، حليمى دوباره دى يتيم ماشوم لره بنى سعد قبيلئ علاقى ته راوستلو، چى ډيره خوشحالى ئى كوله او نيك بخته وه .

## د شق صدر (د سينے سيريدو) واقعه

د نبى كريم ﷺ عمر تقريباً څلور كاله وو چى  يوه ورځ نبى كريم ﷺ دخپل رضاعى ورور (د حليمى بي بي ځوي) سره لوبے كولى ، د بنوسعد به علاقه كنبى ، د  كور نه لرِ لرى بهر ناسپا د حليمى ځوى په منډه منډه راغلى ، په مخ باندى ئى غم ښكاره وو، مور ته وائى ، د قريشى ورور مدد له ځان وروسوئ، مور د بچى نه تپوس وكړو چى څه چل شوى دى ؟ هغه ورته قيصه وكړه چى دوه سفيد پوش كسان راغلل، ورور ئے راله په زمكه څملولو او سينه ئے ورله په چاړه وسِيرله ، هغه لا خبره ختمه كړى نه وه ، چى حليمى بى بى منډه كړه  څه كورى چي نبى كريم ﷺ په خپل ځايي چپ چاپ  ولاړ دى،

رنګ ئې تک زیړ دی ، حلیمی بی بی تری تپوس وکړو، هغه ووئیل : خیریت سره یم ، بیا ئے ووئیل چې دوه سپینو جامو والا کسان راغلل او زما سینه ئې وسِرله او زما زړه ئې راویستلو، د هغې نه ئې توره ټوټه بهر ګوزار کړه، او زړه ئې راله په یخو اوبو ووینځلو، او په خپل ځائې باندی ئې کیښودلو، بیا ئې راله سینه بنده کړه، او لاړل، د سترګو نه پناه شول،
حلیمی بی بی هلك د ځان سره خپل کور ته راوستلو، بله ورځ ئې سحر وختی د ځان سره مکه مکرمی ته بوتللو، آمنه بی بی د حلیمی بی بی  په بے وخته راتللو حیرانه شوله ځکه چې حلیمی بی بی د ځان سره ډیر په مینه بوتللی وو چې تپوس ئې وکړو نو حلیمی بی بی د شق صدر ټوله قیصه بیان کړه .

## د مور او د نیکه وفات

بی بی آمنه د خپل یتیم بچی سره مدینی ته لاړه د عبد الله د قبر د زیارت دپاره ، مدینه کښې بنو نجار قبیله کښې یو څو ورځې دیره شوله ، بیا واپس مکے ته رارروانه شوه، د اَبواء مقام سره آمنه بی بی وفات شوه ، او هلته دفن کړی شوه ، د نبی کریم ﷺ عمر تقریباً شپږ کاله وو چې مور بي بي ئے

وفات شوه ، د مور د وفات نه پس د نبي كريم ﷺ د كفالت ذمه وارى نيكه عبد المطلب واخستله ، هغه د نبي كريم ﷺ بے حده خيال ساتلو ، د نبي كريم ﷺ تربيت كولو هغه سره ئے شفقت كولو ، كله چي د نبي كريمﷺ عمر اته (٨) كاله شو، نو نيكه ئے وفات شو، د نبي كريمﷺد پرورش ذمه وارى ابو طالب ته نقل شوله،

د ابو طالب مالى حالت كمزوري وو او خاندان ئے لوئى وو، د هغي باوجود ابو طالب او د هغه ښځي نبي كريمﷺ د خپلو بچو پشان خيال وساتلو ، ددى وجى نه د نبي كريمﷺ د ابوطالب سره مينه وه ، داسى حالاتو كښې نبي كريم ﷺ پرورش حاصل كړو، د نبي كريمﷺ تربيت په صداقت او امانت بانديے وشو تردى چي نبي كريمﷺ د صادق او آمين په لقب باندى مشهور شو، كه چابه ووئيل چي صادق او آمين راغلى دى نو هرچا ته معلومه وه چي دا نبي كريمﷺ يادوى .

## تجارت او واده

كله چي نبي كريم ﷺ لږ رالوئى شو ، د خپل ژوند ټول معاملات ئى پخپله سنبال كړل ، نبي كريم ﷺ د كار او

کسب سلسله شروع کړه ، په معمولي مزدورۍ باندې ئې د قريشو ګډې بيزې سرولے ، شام ته تجارتي قافلۍ کښې شريک شو چې اکثر مال پکښې د خديجه بنت خويلد وو، خديجه يوه ګُنډه ښځه وه ، او ډيره مالداره وه ، د ميسره په نوم غلام د خديجه بي بي د تجارت ذمه وار وو،

د نبي کريم ﷺ د برکت د وجې نه تجارت کښې ډيره زياته منافع وشوه ، ددې لوئې منافع باره کښې خديجه بي بي د خپل غلام نه تپوس وکړو ، هغه ووئيل چې محمد بن عبد الله به سوداء اخستله او خرخوله نو خلق به په ګڼر تعداد کښې هغه ته راتلل ، چا باندې د ظلم نه بغير به ئې ډيره منافع کوله ، خديجے د ميسره خبرې خه په غور واوريدلے، حالانکه هغه بخپله هم د نبي کريم ﷺ په باره د هغه د امانت او صدق نه خبره وه ، خديجه پدې ډيره خوشحاله شوله او د نبي کريم ﷺ سره ئے د نکاح دپاره مينه پيداء شوه ، نو خديجے خپله ملګرې د نبي کريم ﷺ د رأى معلومولو دپاره وليږله چې هغه د نکاح باره کښې څه وائي ، دې وخت کښې د نبي کريم ﷺ عمرمبارک (۲۵) پنځه ويشت کاله وو، دې ښځې د خديجې د طرفنه پيغام نبي کريم ﷺ ته ورسولو،

نبي کريم ﷺ هغه قبول کړو، پدې طريقه سره نکاح وشوله دواړه ښځه او خاوند خپل مينځ کښې ډير خوشحاله وو، نبي کريم ﷺ دخديجې پہ مال کښې تجارت شروع کړو، وخت تيريدو سره سره د خديجې نه د نبي کريم ﷺ اولاد پيداء شو، زينب ، رقية ، ام کلثوم ، او فاطمه رضى الله عنهن او په هلکانو کښې قاسم او عبد الله پيداء شول، دا دواړه په ماشوم توب کښې وفات شو .

## نبوت

دنبي کريم ﷺ عمرمبارک چې څلويښتو کالو ته نزدې ورسيدو نو نبي کريم ﷺ په غار حراء کښې د ځانله والى او خلوت ژوند تيرول شروع کړل ، غار حراء د مکي مکرمې نه مشرق طرفته يو غر کښې موجود وو چې نبي کريم ﷺ به کله مسلسل څو شپې هلته وو، او د الله تعالى بندګى به ئے کوله، دلته د رمضان د مياشتې (۲۱) يوى شتمه نيټه وه ، نبي کريم ﷺ غار حراء کښې وو ، څلويښت کاله عمر ئے پوره شوى وو چې جبريل عليه السلام ورله راغلى ، ورته ئے ووئيل : اُولوله ! نبي کريم ﷺ ورته ووئيل : زه لوستلونکى نه يم ،

دغه خبره جبريل عليه السلام دريے ځل دوهراؤ کړه، ليکن نبی کريم ﷺ ورله هغه جواب ورکولو چی زه لوستونکی نه يم ، په دريم ځل جبريل عليه السلام ووئيل: [ **اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالقَلَمِ، عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ** ] {العلق:٥} ترجمه: اُولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چی پيدائش ئے کړی دی (١) پيداء کړی دی انسان د ټکړی د وينئ نه (٢) ولوله هميشه او رب ستا ډير عزت والا دی (٣) هغه ذات چی تعليم ئے ورکړی دی په قلم سره (٤) تعليم ئے ورکړی دی انسان ته د هغه څيز چی دی پری نه پوهيدو ،

هغه ملائک بيا واپس شو ، ددی نه پس نبی کريم ﷺ غار کښې د هيساريدو طاقت ونه لرلو نو کور ته راغلي ، کله چی د خديجه بی بی خواء ته وروړسيدو نو زړه ئے درزيدو، نبی کريم ﷺ وفرمايل : (**زَمِّلُونِي، زَمِّلُونِي**) ما په کمبل کښې پټ کړه ، ما په کمبل کښې پټ کړه ، نبی کريم ﷺ ئے په کمبل کښې پټ کړو ، تردی پوری چی يره تری ختمه شوه ، بيا ئے ټوله قصه خديجے رضی الله عنها ته بيان کړه ، بيا ئے ورته ووئيل : زه پخپل ځان ويريږم، خديجے رضی الله عنها ورله

تسلئ ورکړه چې قسم په الله هيچري به هم الله تعالی تا ناکامه نه کړی ځکه چې ته خپلولی پالے ، خلقو سره مدد کوی، بے روزګاره ته کسب لټوی ، میلمنو له میلمستیا ورکوی ، د حق په باره کښې چې مشکلات راځی هغې کښې د خلقو مدد کوی ، د څو ورځو نه پس نبي کريم ﷺ دوباره غار حراء ته د عبادت دپاره لاړو ، کله چې د عبادت نه فارغه شو، مکے مکرمی ته واپس راروان وو، په لاره کښې جبريل عليه السلام کرسی باندی ناست د آسمان او زمکے په مینځ کښې ولیدو، جبریل امین ددیے آیتونو وحی وکړه :[يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنْذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ] {المدَّثر:٦} ترجمه: اے کمبل کښې ځان انغختونکیه ! اُودریږه نو ویره ورکړه ، او خاص د رب خپل لوئی وایه ، او جامی خپلی پاکئ ساته ، او هری پلیتئ نه ډډه اُوکړه ، ددی نه پس د وحی سلسله شروع شوه ، پرله پسی وحی راتلله ، کله چه نبي کريم ﷺ د دعوت آغاز وکړو ، اول د ایمان په آواز باندی لبیک د هغه بی بی خدیجه رضی الله عنها اووئیلو، د الله د وحدانیت ګواهی ئے وکړه ، او د نبي کريم ﷺ رسالت ته ئے ځان تسلیم کړو ، او په اسلام کښې

د ښځو نه اول ئې اسلام قبول کړو ، رسول الله ﷺ ددې نه پس د خپل نزدې دوست ابوبکر صديق سره خبره وکړه ، هغه هم خبره ومنله ، او ايمان ئې راوړو ، ذره برابر شک ئې هم ونکړو ، چونکه ابو طالب د نبي کريم ﷺ مور او د نيکه د وفات نه پس پرورش کړې وو، ددې وجې نه چې کله نبي کريم ﷺ په خپلو خپو اودريدو ، نو د خپل تره ابو طالب ځوی د علي رضي الله عنه د کفالت ذمه واری ئې أغستلې وه، پدي ماحول کښې الله تعالی د علی رضی الله عنه سينه د اسلام دپاره پرانستله ، او اسلام ئې قبول کړو، د دوی نه پس د خديجې رضی الله عنها غلام زيدبن حارثه ايمان راوړو، نبي کريم ﷺ پټ پټ د اسلام دعوت چلولو ، او مسلمانانو خپل اسلام پټ کړي وو ځکه که قريشو ته به پته ولګيده چي چا اسلام قبول کړی دی ، هغه له به ئې سزا ګانئ ورکولې چې د اسلام نه واپس شي .

## ښکاره دعوت

درسول الله ﷺ د پټ دعوت چې کله درې کاله وشو ، نو د الله تعالی د طرفنه حکم راغې : [**فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ**

الْمُشْرِكِينَ] {الحجر:٩٤} ترجمه : پس صفا صفا بیان کړه هغه
چې تا ته حکم کړی شوی دی د هغې د بیانولو ، او مخ
اوګرځوه د مشرکانو نه ، یوه ورځ رسول الله ﷺ صفا غونډۍ
باندی اُودریدو ، مکے والو ته ئے آواز وکړو ، ډیر خلق راجمع
شول ، دی خلقو کښې د نبی کریم ﷺ تره ابو لهب هم موجود
وو چې د الله او د رسول په دشمنۍ کښې د هر چا نه مخکښې
وو ، خلق چې کله راغلل نبی کریم ﷺ وفرمایل : که زه تاسو
له خبر درکړم چې ددی غر نه هغه طرفته دشمن دی ، تاسو
باندی حمله کوی نو تاسو به زما خبره ومنئ ، ټولو ووئیل :
مونږه ته نه ئے موندلے مګر ریشتونی او امانت دار، نو رسول
الله ﷺ وفرمایل: زه ستاسو دپاره یره درکونکی یم مخکښې
ددی نه چې سخت عذاب د الله راشی، ددی نه پس نبی کریم
ﷺ الله طرفته دعوت شروع کړو، او د بت پرستۍ چې په هغه
زمانه کښې رواج وو تردید به ئے کولو، دغه ځائي کښې
موجود ابو لهب غصه شو، وے وئیل : (معاذ الله) هلاک شي،
تا مونږ ددي خبری دپاره راجمع کړی یو ، الله تعالی د ابو
لهب په باره کښې داسی آیاتونه نازل کړل چې تر قیامته پوری
به لوستلی کیږی : [بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ] [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ

**وَتَبَّ، مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ، سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ، وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الحَطَبِ، فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ]** {المسد:٥} ترجمه: هلاک شول دواړه لاسونه د ابو لهب او هلاک شو دی ، فائده ورنکړه ده ته مال دده او هغه څیز چې ده ګټلی وو ، زر دی چې ورننوځی به اُور لمبو والا ته ، او ښځه دده چې راوچتوونکی د خشاک ده ، په سټ د هغی کښې رسۍ ده د پوستکي د کجوری نه ، نبی کریم ﷺ خپل دعوت باندیے کلک ولاړ وو ، چرته به چې د خلقو اجتماع په نظر راتلله، هغوی ته به ئے دعوت ورکولو ، د خانه کعبے خواء کښې به ئے مونځ اداء کولو، او د خلقو په اجتماعاتو کښې به شریک کیدلو ، او د اسلام پیغام به ئې رسولو او دعوت ورکولو دپاره به د مشرکانو بازارونو ته ورتللو ، ډیر تکلیفونه به ئے برداشت کول ، کومو خلقو به چې ایمان راوړو مشرکانو به ډیر تکلیفونه ورکول لکه چې سُمیه بی بی او یاسر او عمار رضی الله عنهم ته ئے دومره سزاګانۍ ورکړی چې یاسر او سُمیه رضی الله عنهما شهیدان شول ، سُمیه رضی الله عنها هغه ښځه ده چې په اسلام کي اوله شهیده شوی ده ، یاسر رضي الله عنه په اسلام کښې اول د شهادت درجه حاصله کړیده،

بلال بن رباح حبشی رضی الله عنه ته هم امیه بن خلف او ابوجهل ډیری سزاګانې ورکړی وی ، ورته به ئے وئیل : اے بلاله ! اسلام پریږده ، بلال رضی الله عنه په اسلا باندی مضبوط وو ، امیه بلال رضی الله عنه په زنځیرونو کښې وتړلو ، او بهر د مکے مکرمی په ګرمو شګو کښې به ئے څملولو ، او پخپله هم او په نور مشرکانو باندی به ئے هم په کوړو وهلو ، د بلال رضی الله عنه د خُولئ مبارکی نه به صرف د اَحد اَحد آواز راتللو ، یوه ورځ ابو بکر صدیق رضي الله عنه ورباندی ورتیر شو ، نو د امیه نه ئے واخستلو او د الله دپاره ئے آزاد کړو ، پدی مشکل حالت کښې د حکمت د وجه نه رسول الله ﷺ مسلمانان د اسلام د ښکاره کولو نه منع کړی وو ، ددی وجی نه به نبی اکرم ﷺ د صحابه کرامو سره په تنهائی کښي میلاویدو ، کچرته نبی کریم ﷺ ښکاره ملاویدلی نو مشرکانو به د هغه او د هغه د دعوت ترمینځ مانع واقع کیدلی ، او ممکنه وه چی ددی وجه نه د دواړه ډلو مینځ کښې جنګ راغلی وی، چونکه د مسلمانانو تعداد هم کم وو، او اسباب د جنګ هم نه وو، ددی وجی نه نبی کریم ﷺ مسلمانانو ته د اسلام د پټولو حکم کړی وو،

رسول الله ﷺ به د مشركانو مخكښې د تكليفونو باوجود ښكاره دعوت او عبادت كولو.

## حبشو ته هجرت

اسلام چې چا قبول كړى وو، او مشركانو ترى خبر وو نو هغوى ته به ئے ډير تكليفونه رسول، خاصكر د معاشرى هغه كمزوري صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين ته نو رسول الله ﷺ دوي ته حبشو ته د نجاشي بادشاه خواء ته د هجرت اجازه وركړه ، دا واقعه د نبوت په پنځم كال راغله، تقريباً اوويا (۷۰) كسانو د خپلو ښځو او بچو سره حبشو ته هجرت وكړو ، هجرت كونكو كښې عثمان بن عفان رضى الله عنه او د هغه كور والا رقية بى بى د رسول ﷺ لور ورسره هم پدى سفر كښې ملګرى وه ، قريشو پوره كوشش وكړو چې حبشو كښې هم مسلمانان سكون باندى ژوند تير نه كړى ، نو د نجاشي بادشاه په خدمت كښې مختلفى ډالۍ وغيره پيش كړى ، او دا مطالبه ئے وكړه چې دا خلق مكے والو ته حواله كړى، او مكے والو دا الزام ولګوو چې دا مسلمانان عيسى عليه السلام او د هغه مور ته بد رد وائى،

نجاشي چې د مسلمانانو نه د حقیقت په باره کښې تپوس وکړو، نو هغوی جواب کښې قرآن ولوستلو هغه چې د عیسی او مریم علیهما السلام په باره کښې نازل شوی وو، نجاشي بادشاه چې قرآن کریم واوریدو نو د مسلمانانو د خبرې تائید ئې وکړو، مسلمانان ئې مکے والو ته د حواله کولو نه انکار وکړو، او بخپله د ایمان راوړلو اعلان ئے وکړو .

## عجیبه واقعه

ددی کال په رمضان کښې رسول اللهﷺ یوه ورځ مسجد حرام ته راغلو ، او د ټولو خلقو په مینځ کښې ئے د سورة النجم تلاوت شروع کړو چې قریش هم کنړ تعداد کښې موجود وو ، دی کافرانو مخکښې چرته هم د قرآن کریم تلاوت نه وو آوریدلے ځکه دوی خپل مینځ کښې دا لوظ کړی وو چې محمد ﷺ ته به غوږ نه ږدو ، کله چې ناساپې ددی خلقو مخکښې دقرآن کریم ددی مبارک سورت تلاوت شروع شو ، ددی په غوږونو ډیر عجیبه ولګیدو او قرآن ته غیر اختیاری متوجه شو ، کله چې رسول الله ﷺ ددی آیت (فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا) النجم: ٢٦) ترجمه:دخپل رب مخکښې

سجده وکړئ اودهغه عبادت وکړئ ، رسول الله ﷺ سجده وکړه نوټول په ټوله بې اختياره په سجده باندی پريوتل .

## هرقسم تعلق پريکول

قريشو هميشه دپاره د نبي کريم ﷺ ددعوت هر قسمه مخالفت کولو، او هره ورځ به ئے نوی نوی انداز کښې تکليفونه ورکول، دهمکيانئ به ئے ورکولے ، کله کله لالچ د مال او د ښځې ورکولو، دی ټولو تکليفونو به مسلمانان په خپل باندی مضبوطول ، او د ايمان والو تعداد به ورځ په ورځ زياتيدو، نو کافرانو د مسلمانانو خلاف يو نوی محاذ پرانستلو، خپل مينځ کښې ئے يوه معاهده وليکله ، ټولو پدی اتفاق وکړو، او خانه کعبه کښې ئے آويزانده کړه ، چې د مسلمانانو او بنو هاشم سره به هر قسمه تعلقات ختم کړي شي، د دوی سره اخستل ، خرڅول ، نکاح ، او هر قسمه تعاون به ختم کړی شي، مسلمانان مجبورًا د مکے مکرمی نه بهر شعب ابی طالب ته نقل شول ، پدی ځائی کښې مسلمانو ته ډير تکليف وو ، لوږه او نور ډير مشکلات وو، کوم مسلمانان چې مالداره وو ، هغوی خپل ټول مال په نورو

مسلمانانو باندی خرچه کړو لکه خديجه رضی الله عنها ، او دوي ته مرضونه ولګيدل ، او ډير خلق مرګ ته نزدی شول ، ليکن ددی هرڅه باوجود مسلمانان مضبوط وو، او صبر ئے کولو ، يو تن هم د خپل دين نه روستو نه شو ، دا سلسله تر دری کالو پوری وه ، تردی چی قريشو کښې څو مشرانو ددی خلاف آواز اوچت کړو، دا خلق د بنو هاشم نزدی رشته دار وو، هغوی ښکاره ددی اعلان مخالفت وکړو ،کله چی دا معاهده د خانه کعبے نه رابهرکړه ، معلومه شو چی چينجو ټول کاغذ خوړلے وو ، صرف د الله نوم باقی وو، پدی طريقه سره د مشکل وخت ختم شو، بنو هاشم او مسلمانان مکے مکرمی ته واپس راغلل، ليکن قريشو په مسلمانانو باندی د ظلمونو سلسله جاری وساتله .

## د غم کال

د شعب ابی طالب د راتللونه پس ابو طالب بيمار شو د نبی کريم ﷺ تره صاحب فراش شو، څو ورځې تيری شوی نوی چی ابو طالب باندی د مرګ علامی ښکاره شوی ، رسول الله ﷺ د تره سر طرفته کيناستو ، د مرګ نه مخکښې ئے تری

د لااله الا الله د اقرار مطالبه کوله، ليکن بل طرفته کافران رشته دار خاصکر ابوجهل د اسلام د قبلولو نه منع کولو او ورته ئے وئيل چې ته د خپل پلار نيکه دين پريږدی ، د عبد المطلب ددين نه مخ اړوی ، تردی چې ابو طالب د شرک په حالت کښې وفات شو ، رسول اللهﷺ ته د ابو طالب په وفات باندی ډير غم ورسيدو ، ځکه چې د شرک په حالت کښې وفات شو ، د ابو طالب د مرګ نه دوه مياشتې پس خديجه رضی الله عنها وفات شوه چې رسول الله ﷺ ته ډير غم ورسيدو ، ددی دواړو د وفات نه پس مشرکانو نبی کريم ﷺ باندی تکليفونه نور هم ډير کړل .

## طائف ته سفر

د قريشو سرکشی فرعونيت او مسلمانانو ته تکليف ورکول د حد نه ډير شوو نبی کريم ﷺ طائف ته د سفر کولو اراده وکړه ، کيدی شی الله تعالی هغوی ته هدايت وکړی طائف ته تلل څه آسان نه وو ، يو خو د طائف لار په غرونو کښې مشکله وه ، او بل د طائف والو د طرفنه جواب انتهائی تکليف والا وو ، دی خلقو د نبی کريم ﷺ په خبره هيڅ

پرواه ونکړه بلکه بدی بدی خبری ئے ورته وکړی ، او ماشومان ئے وریسی کړل په کانړو ویشتلو تردی پوری چی د نبی کریم ﷺ پنړی مبارکئ د وینونه ډکی شوی پدی مشکل حالت کښې نبی کریم ﷺ مکے مکرمې ته د واپس تللو فیصله وکړه ، رسول الله ﷺ ډیر زیات خفه او غمجن وو، پدې وخت کښې جبرئیل علیه السلام سره د غرونو ملائک راغلو، جبرئیل علیه السلام وفرمائیل : (**وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ**) ترجمه : یقینا الله تعالی د غرونو والا ملائک تاته رالیږلے دی دی دپاره چی ته ورته حکم وکړی څه چی ستا خوخه وی ، ملائک ووئیل : (**إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمِ الأَخْشَبَيْنِ**) اے محمد ﷺ که ستا خوخه وی زه به دی قوم باندی دا دوه غرونه یوځائی کړم ، نبی کریم ﷺ جواب ورکړو : (**بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا**)بلکه زما دا امید دی چی الله تعالی به د دوی په نسلونو کښې داسی خلق پیداء کړی چی د الله تعالی عبادت به کوی او د الله تعالی سره به هیڅوک نه شریک کوی، حالانکه نبی کریم ﷺ ته ددی خلقو د طرفنه ډیر

تکليف رسيدلے وو ، ليکن د هغې باوجود هم نبي کريم ﷺ د خپل قوم په باره کښې د شفقت او د صبر مظاهره وکړه

## د سپوږمۍ دوه ټکړې کيدل

د مکے مشرکانو به بار بار د رسول اللهﷺ نه د معجزاتو مطالبه کوله ، داسې معجزه راوړه چې هغې سره زمونږ ستا په نبوت يقين راشي ، دا مطالبه به ئے بار بار کوله ، يو ځل ئے دا مطالبه هم وکړه چې دا سپوږمۍ دوه ټکړې کړه ، نبي کريم ﷺ د الله تعالى نه دعاء وکړه ، الله تعالى سپوږمۍ دوه ټکړې کړه ، چې قريشو تر ډير وخت پورې وکتله، ددې باوجود ئے د ايمان راوړلو نه انکار وکړو ، بيا ئے ووئيل چې محمد ﷺ مونږ باندې جادو وکړو ، يو سړي ووئيل که محمد ﷺ تاسو باندې جادو کړې دې نو ټولو خلقو باندې خو جادو نشي کولې ، نو قريش د بهر نه د راتلونکو خلقو انتظار کولو کله چې د بهر نه مسافر راغلل نو د هغوی نه ئے تپوس وکړو، هغوی جواب ورکړو چې آو مونږ دا واقعه ليدلې ده، ددې ښکاره معجزې باوجود هم مشرکان په خپل کفر باندې مضبوط وو .

## د اسراء او معراج واقعه

د طائف نه رسول الله ﷺ ډير د غم په حالت كښې راواپس شوى وو ، ددى نه مخكښې ابو طالب وفات شو ، وروسته خديجه رضى الله عنها وفات شوى وه ، او مشركانو ظلمونه هم دحد نه ډير شوى وو ، نبى كريم ﷺ لره غمونو د هر طرفنه راګير كړى وو ، داسى حالت كښې د الله تعالى د طرفنه د اطمينان او سكينه اسباب راغلل ، يوه شپه نبى كريم ﷺ آرام كولو چې جبريل عليه السلام د براق سره راغلو ، براق د آس پشان حيوان وو ، د بجلۍ پشان تيز رفتار وو، نبى كريم ﷺ پدى سورلۍ باندى كيناستولۍ شو او فلسطين ته بيت المقدس ته بوتللى شو ، د هلته نه نبى كريم ﷺ آسمانونو ته سفر وكړو چې پدى سفر كښې نبى كريم ﷺ د الله تعالى د قدرت ډيرى نخى نخانى وليدلي ، پدى سفركښې پنځه مونځونه فرض شو ، او په دى شپه واپس مكے ته راغلو ، او د نبى كريم ﷺ زړه مطمئن او مضبوط شوى وو ، ددى په باره كښې الله تعالى فرمائى : [**سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**] {الإسراء:١}

ترجمه : پاکي ده الله تعالى لره (د هر قسم شرک او د عيبونو نه) هغه ذات دى چې بوتلو بنده خپل په ټکره د شپه كښې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصى پوري ، هغه چې بركات اچولى دى مونږ چاپيره د هغې نه ، دپاره ددي چې اوښايو مونږ ده ته د نښو د قدرت او د توحيد زمونږ نه ، يقينا الله تعالى هر څه آورى او هر څه وينى ، بله ورځ نبي كريم ﷺ خانه كعبے سره كيناستو او خلقو ته ئے د تيرى شوى شپې حالات بيانول كافرانو د نبي كريم ﷺ د خبرى تكذيب وكړو ، خنداګانى ئے كولى ، يو تن ووئيل چې ته بيت المقدس ته تللى ئے نو مونږ ته د هغې شكل بيان كړه ، مقصد ئے د نبي كريم ﷺ دروغجن ثابتول وو ، الله تعالى بيت المقدس د نبي كريم ﷺ د سترګو مخكښې را اُوچت كړو ، د مشركانو د ټولو تپوسونو جواب ئے وركړو ، مشركانو پدى خبره يقين ونكړو، د بل دليل مطالبه ئے وكړه دويم دليل نبي كريم ﷺ ورته وويل چې لاره كښې يوه قافله مكے مكرمى ته راتلله ، نبي كريم ﷺ د هغې ټول احوال بيان كړل چې څومره اُوښان دى ، څو ورځو كښې به راورسى ،

ليکن ددی هرڅه باوجود کفار په خپل ضد باندی کلک وو، په بله ورځ جبرئيل عليه السلام راغلي او نبی کريم ﷺ ته ئے د مونځونو طريقه او وختونه وښودل ، اول صرف سهار دوه رکعاته او د ماسخوتن دوه رکعاته مونځ فرض وو ، پدی موقعه نبی کريم ﷺ خپل دعوت صرف د بهر نه راتلونکی خلقو دپاره خاص کړی وو چی مکے والا د اسلام په خلاف قسم خوړلی وو ، د بهر نه راتلونکی ته به ئے د پناه اخستلو په باره کښې هم خبره کوله چی ما له په خپل ملك کې پناه راکړئ ، او اسلام به ئے د هغوی مخکښې پيش کولو، او وضاحت به ئے ورته کولو ، بل طرفته به ابولهب د نبی کريم ﷺ شاته روان وو ، او خلق به ئے د نبی کريم ﷺ د دعوت نه منع کول ، يو ځل څه کسان د مدينی (يثرب) نه حج له راغلی وو ، نبی کريم ﷺ ورته دعوت ورکړو ، هغوی د نبی کريم ﷺ خبری ته خه غوږ کيښودو، او په نبی کريم ﷺ باندی ايمان راوړلو کښې متفق شو ، او ايمان ئے قبول کړو ، مدينی والو د يهودو نه آوريدلی وو چی آخره زمانه کښې به يو نبی راځی کله چی نبی کريم ﷺ دوی ته دعوت ورکړو نو دوي ووئيل چی دا هغه آخری نبی کريم دی ، هسی نه چی يهود

رانه مخکښې شی ، دا شپږ کسان وو، بل کال باندي د مدینے نه دولس (۱۲) کسان راغلل ، نبی کریمﷺ  ورسره مصعب بن عمیر رضی الله عنه ولیږلو چي مدیني والو ته قرآن وښائی، او د دین احکام ورته وښائی د الله تعالی په مدد سره مصعب رضی الله عنه مدینے والو باندي ښه محنت وکړو ، یو کال پس مکے مکرمي ته واپس راغلو سره د مدینے والو نه دوه اوویا (۷۲) سړی او ښځي راغلل، دا خلق د نبی کریم ﷺ سره میلاو شول ، دوی د نبی کریم ﷺ سره ددین په نصرت باندي بیعت وکړو ، او ددی نه پس مدینی ته واپس شول .

## د اسلام د دعوت نوی محاذ

د حق او حق پرستو دپاره مدینه نوی امن والا ځائی پیداء شو ، مسلمانانو هلته هجرت شروع کړو، او دلته د مکی مشرکانو دا کلک عزم کړی وو ، چی مسلمانان د هجرت نه منع کړی ، مهاجرینو ددی وجه نه قسماقسم تکلیفونه برداشت کړل ، مسلمانانو به د قریشو د یری نه پټ پټ هجرت کولو ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه به بار بار د نبی کریم ﷺ نه د هجرت اجازت غوښتلو لیکن نبی کریم ﷺ

به ورته دا خبره کوله چې تلوار مه کوه ، کیدئشي الله تعالی تا له ملګرئ پیداء کړی ، تردی چې ډیرو مسلمانانو هجرت وکړو چې قریشو ته معلومه شوه چې د مسلمانانو طاقت مدینه کښې پیداء شو، د نبی کریم ﷺ د دعوت د ترقئ نه یریدل، خپل مینځ کښې دوي مشوره وکړه چه معاذ الله نبی کریم ﷺ به قتل کړو، پدی خبره متفق شو ، ابو جهل مشوره ورکړه چې د هری قبیلئ نه به یو یو ځوان له توره ورکړو، په یو ځل به حمله وکړی ، بیا بنو هاشم به د چا چا سره دشمنی کوی، الله تعالی د مشرکانو ددی سازش خبر نبی کریم ﷺ له ورکړو، د الله تعالی د حکم نه بعد نبی کریم ﷺ د ځان سره ابوبکر صدیق کړو ، او د سفر کولو اراده ئے وکړه ، د شپې علی رضی الله عنه ئے پخپله بستره باندی سملولو ، مشرکان راجمع شول ، د نبی کریم ﷺ د کور نه ئے ګیره واچوله ، د نبی کریم ﷺ د راوتلو په انتظار وو چې نبی کریم ﷺ د دوی په صفونو کښې راووتلو او په سرونو ئے ورله خاوری واچولئ او دوی ته هیڅ پته ونه لګیده ، پدی طریقه نبی کریم ﷺ د ابو بکر رضی الله عنه خواء ته راغلو، د مدینے په سفر د کور نه یوځائی روان شول ، اول غار ثور ته لاړل ، دلته قریشو

دصبا پوری انتظار کولو چی کله د بستری نه علی رضی الله عنه پاسیدو ، مشرکان حیران شول، دوی د علی رضی الله عنه نه د نبی کریم ﷺ په باره کښې تپوس کولو خو هغه حال نه وئیلو ، علی رضی الله عنه ئے ووهلو لیکن څه فائده ئے ونکړه ، نو مشرکانو هر طرفته کسان خواره کړل ، اعلان ئے وکړو چی چا چی نبی کریم ﷺ ژوندی یا معاذ الله مړ راوړو ، سل (۱۰۰) اوښان انعام دی، مشرکان تر غار ثور پوری وروړسیدل ، کچرته یو تن خپلو ښپو طرفته لاندب کتلی وی نو دوی به ئے لیدلی وی ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره د نبی کریم ﷺ په باره کښې غم ډیر شو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : (**مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا،لَا تَحزَنَ إِن الله مَعَنَا**)ترجمه : اے ابوبکر! ستا څه خیال دی د هغه دوه کسانو په باره کښې چه الله ئے دریم دی، مه خفه کیږه الله تعالی زمونږ سره دی ، مشرکانو دوی ونه لیدل او نبی کریم ﷺ د ابوبکر صدیق سره په غار کښې دری ورځی تیری کړی، دی نه پس مدینے ته روان شو، لاره ډیره لویه وه ، او ګرمی ډیره سخته وه ، په دویمه ورځ د دوی تیریدل یه یوه ښځه وشو چی د ام معبد په نوم باندی وه، دوی د هغی نه د

خوراک څښاک طلب وکړو، د ښځې سره هيڅ نه وو، يوه کمزوري بيزه د خيمې يو طرف کښې وه چې د کمزورتيا د وجې نه څر دپاره نه شوه تللې، او يوه قطره پئ هم پکښې نه وو،

نبي کريم ﷺ د هغه بيزې خوا له لاړو، د هغې غولانزه ئے په لاسونو مبارکو مسح کړه ، د هغې نه پئ روان شو، يو لوښې ئے ډک کړو، دا حالت چې ام معبد وليدو، حيرانه شوله، تول پئ وڅښکل، دوباره ئے بيا لوښې ډک کړو، هغه ئے دام معبد سره پريښودو او سفر باندې روان شول ، دلته مدينے والا هره ورځ د مدينې نه بهر راوځې او د نبي کريم ﷺ انتظار کوې کله چې نبي کريم ﷺ مدينې ته راغلو نو ټولې مدينې والو د خوشحالئ د وجے د مرحبا مرحبا آوازونه کول ، نبي کريم ﷺ د مدينې جنوب کښې واقع قباء کښې ديره شو، څلور ورځې هلته وو، او د مسجد قباء بنياد ئے کيښودو، په اسلام کښې اولنے مسجد دا دې ، په پنځمه ورځ نبي کريم ﷺ مدينې طرفته روان شو ، ډيرو انصارو صحابه کرامو دا کوشش کولو چې د نبي کريمﷺ د ميلمستيا شرف حاصل کړي ، د اُوښې مهار ئے نيولې وو، نبي کريم ﷺ ددې خلقو د

جذباتو شکریه اداء کوله او دا به ئے وئیل : (**دَعُوهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ**) دا اوښه پریږدئ، دیته امر کړی شوي دی ، اُوښه لاړه خپل ځائی کښې کیناستله ، بیا پاسیده بل ځائي ته مخکي شوه، بیا ئے خپل ځائی ته وکتل نو پاسیده او بیرته خپل مخکني ځائي ته راواپس شوه ، او کیناستله، نبي کریم ﷺ تری کوز شو ، او دغه ځائی ئے د مسجد دپاره منتخب کړو، رسول الله ﷺ د ابو ایوب انصاری کور کښې میلمه شو، علی رضي الله عنه دری ورځو پوری مکه کښې ایسار شو چی د رسول الله صلي الله علیه وسلم امانتونه وسپاری، بیا مدینی ته راغلو، قباء کښې د رسول الله ﷺ سره میلاو شو .

## نبي کریم صلي الله علیه وسلم په مدینه کې

کوم ځائی چی د نبی کریم ﷺ اُوښه ناسته وه هغه زمکه ئے واغسته ، او مسجد نبوی وربانده آباد کړو، رسول الله د مهاجرینو (چی د مکے نه د نبی کریم ﷺ سره راغلی وو) او انصارو(د مدینی خپل اُوسیدونکی مسلمانان چی مهاجرینو له ئے پناه ورکړی وه) ترمینځ رورولی جوړه کړه، د یو انصاری او یو مهاجر رورولی ئے قائمه کړه چی د هغه مال کښې هم

شريک وو، پدي طريقے سره مهاجرين او انصار يو ځائی کار شروع کړو ، پدی سره روروِلی نوره هم مضبوطه شوه ، د مکے مشرکان او د يهودو د مخکښې نه تعلقات موجود وو، مشرکانو ديهودو په ذريعه مسلمانانو کښې جداء والے راوستلو ، او کوشش ئے کولو، او مشرکانو دهمکيانئ ورکولے چی مونږه مسلمانان ختموو ، مسلمانان د بهرنی دشمن (قريشو) او کور ددننه دشمن (يهود) نه خطره کوله ، حالات دومره سخت شو چی صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين به د ځان سره أسلحه د خوب په حالت کښې سرته ايخودله ، داسی د تکليف په حالت کښې الله تعالی د جهاد حکم نازل کړو، رسول اللهﷺ د مجاهدينو دستے يو طرف او بل طرف ته ليږل شروع کړل ، چی د دشمن په نقل او حرکت باندی نظر ولری ، ددی سره نبی کريم ﷺ په تجارتی قافلو باندی هم حمله کول شروع کړل ، چی مشرکانو ته د مسلمانانو د طاقت احساس وشی، او کافران هم د پراُمن اوسيدلو خبری ته مجبوره شی، او مسلمانان په آزادئ سره د اسلام دعوت وکړی ، ددی سره نبی کريم ﷺ د بعضو قبائلو سره معاهدی هم کړی وی .

## جنګ بدر :

رسول الله ﷺ دا فیصله وکړه چې دشام نه دمشرکانو راتلونکې قافلۍ ته لار ونیولې شي، نبي کریم ﷺ د ځان سره درې سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام روان کړل ، دوی سره صرف دوه آسونه او اوویا (۷۰) اُوښان وو، د قریشو تجارتي قافله کښې هزار (۱۰۰۰) اُوښان وو چې مشري ئے ابوسفیان کوله ، ورسره صرف څلویښت (٤٠) کسان وو، ابوسفیان ته معلومه شوه چې مسلمانان حمله کوی هغه مکے والا د حالاتو نه خبر کړل ، او د مدد اپیل ئے وکړو، او پخپله بله لار باندی روان شو، او د مسلمانانو د حملے نه ئے ځان بچ کړو، دلته ابو جهل د مکے د قریشو نه زر (۱۰۰۰) جنګیانو سره د جنګ په نیت روان شو ، ابوسفیان استازی ولیږلو چې قافله بچ شوه ، تاسو واپس شئ لیکن ابوجهل د واپسئ نه انکار وکړو او خپل سفر ئے جاري وساتلو ، رسول الله ﷺ ته چې خبر وشو چې مشرکان د جنګ دپاره راروان دی ، د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین سره ئے مشوره وکړه ، اتفاق پدی خبره راغلی چې د مشرکانو سره جنګ وکړی شی ، او مقابله ورسره وکړی شی ، دویم کال د هجرت د رمضان

المبارک په اُولسمه ورځ باندی د دواړو لښکرو مقابله وشوله، ډیر سخت چنګ وشو ، بالآخر مسلمانانو ته میدان پاتے شو، او مشرکان وتختیدل څوارلس (١٤) مسلمانان شهیدان شول، او اوویا (٧٠) مشرکان مردار شول، او اوویا (٧٠) قیدیان شول، پدی ورځو کښې رقیه بنت رسول الله ﷺ وفات شوه چه د عثمان بن عفان رضی الله عنه په نکاح کښې وه ، د نبی کریم ﷺ په سفارش عثمان رضی الله عنه مدینه کښې پاتی شوی وو ، جنګ بدر کښې نه وو شریک شوی ، دخپلې ناروغه بي بي خدمت ئے کولو ، نبی کریم ﷺ دجنګ بدر نه پس د خپلی دویمی لور ام کلثوم رضي الله عنها نکاح د عثمان رضی الله عنه سره وکړه ، ددی وجی نه عثمان رضی الله عنه ته ذو النورین وئیلئ شی چی د رسول الله ﷺ دوه لونړه د هغه په نکاح کښې یوه پس د بلئ نه راغلی وی ، د جنګ نه پس مسلمانان مدینے ته خوشحاله راواپس شول ، د الله مدد میلاو شو ، قیدیان ئے راوستل، مال غنیمت میلاو شو، قیدیانو کښې بعضو نقده فدیه ورکړه او ځان ئے خلاص کړو او د چا فدیه دا مقرر شوه چی دمسلمانانو لس ماشومانو ته به لیکل لوستل ورزده کوی .

## جنګ اُحد :

دجنګ بدر نه پس پوره يو کال روستو د مسلمانانو او کفارو مينځ کښې دا جنګ وشو ، د جنګ بدر بدل اخستلو دپاره مشرکانو درې زره (۳۰۰۰) لښکر تيار کړو اُووه سوه(۷۰۰) مسلمانانودهغې مقابله وکړه ، په اول د جنګ کښې مسلمانانو ته فتحه نصيب شوه ، کافرانو ميدان پرېښودو، مګر دوباره راواپس شو، او د غنډۍ (جبل رماة) د طرفنه ئې په مسلمانانو باندې حمله وکړه ، دا هغه غر وو چه رسول اللهﷺ ورباندې غشي ويشتونکي پنځوس کسان مقرر کړې وو، د غنيمتونو د جمع کولو دپاره دوی را کوز شو، ددې وجې نه مسلمانانو ته د کفارو د طرفنه تکليف ورسيدو .

## جنګ خندق

دجنګ اُحد نه پس د يهودو يو وفد مکې والو له لاړو او د مسلمانانو خلاف په مدينه باندې د حملې ترغيب ئې ورکړو، او د هر قسمه امداد وعده ئې ورسره وکړه ، مشرکانو د يهودو خبره ومنله ، بيا د يهودو نورو قبائلو پسې هم لاړو، او د مسلمانانو په خلاف ئې جنګ ته تيار کړل ، هغوی هم اتفاق

وکړو ، دهر طرفنه کافرانو او مشرکانو د مدينے په طرف روان شو، تقريبًا د لسو زرو (١٠٠٠٠) لښکر په مدينه منوره باندی حمله آور شو ، نبی کريم ﷺ د دشمن د سازشونو نه خبر وو ، د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ئے مشوره واخستله ، سلمان فارسی رضی الله عنه دا مشوره ورکړه چې د مدينے منورئی کوم طرف ته چې غرونه نشته هغه طرف ته به خندق وکنستلے شی ، ټول مسلمانان د خندق په کنستلو کښې شريک شو ، ددي وجي نه زرتر زره منصوبه مکمل شوه ، ددي په نتيجه کښي مشرکان د مدينے نه بهر د يو مياشت پوري په خيمو کښې اُوسيدل، خندق باندي ورتلل ورته ګران وو ، آخر کښې الله تعالی تيزه سِلئے راوليږله ، او د مشرکانو خيمئ ئے د بيخ نه أوباسلی ، کافرانو باندی يره راغله ، او په جلتئ سره خپلو علاقو ته واپس شول ، الله تعالی ټولو لښکرو له په يوائے شکست ورکړو، او د مسلمانانو مدد ئے وکړو .

## د مکے فتح

په أتم کال د هجرت باندی رسول الله ﷺ فيصله وکړه چې په مکه مکرمه باندی حمله وکړی، په لسم (١٠) د رمضان

المبارک باندی د لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدينو سره روان شو، او بغير د جنګ نه مکے مکرمی ته داخل شو، ځکه چی قريشو اسلحه ايښودلې وه ، الله تعالى د مسلمانانو مدد وکړو، نبی کريم ﷺ مسجد الحرام ته داخل شو، د کعبة الله طواف ئے وکړو، بيا کعبے ته دننه ورغلو ، او دوه رکعاته مونځ ئے وکړو، او بيا هغه ټول بُتان ئے مات کړل کوم چی خانه کعبه کښې وو، بيا د خانه کعبے په دروازه کښې ودريدو او لاندی قريش ولاړ وو ، د خپلې فيصلې انتظار ئے کولو ، رسول اللهﷺ مشرکانو ته ووېل: چی تاسو څه سوچ کوئ چی زه به تاسو باندی د څه فيصله کونکی يم ؟ ټولو جواب ورکړو چی مونږ ستا نه د خير خواهۍ أميد ساتو ځکه چی ته زمونږه عزتمند ورور ئے ، او د عزتمند ورور ځوئی ئے ، رسول الله ﷺ ورته ووئيل : تاسو ټول آزاد يئ ، رسول الله ﷺ د معافۍ يو مثال قائم کړو چی خپلو دشمنانو ته ئے عامه معافی وکړه ، د مکے د فتح نه پس خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخليدل شروع شول ، په لسم (۱۰) کال د هجرت چي رسول اللهﷺ آخری حج کوو نو د يو لاکهـ (۱۰۰۰۰۰) نه زيات صحابه کرام ورسره وو ، د حج نه پس واپس مدينې منوري ته راغلى .

### د بهر نه د وفدونو راتلل او بادشاهانو ته خطونه

دنبي كريم ﷺ نبوت ګیرچاپیره خور شوی وو، د هر طرفنه خلق ډلۍ ډلۍ د مدینے په طرف راتلل، او اسلام کښې داخلیدل ، بل طرفته نبي كريم ﷺ د قبیلو مشرانو او بادشاهانو ته دعوتی خطونه لیږل شروع کړل، بعضو دعوت قبول کړو، په اسلام کښې داخل شو، بعضو د خط احترام وکړو، او هدايا ئے راوليږلے، خو اسلام ئے قبول نکړو، او بعضو د خط د وجے نه ډیر غصه کښې راغلل او د نبي كريم ﷺ خط مبارک ئے شهید کړو، لکه دا کار د فارس بادشاه کسری وکړو ، رسول الله ﷺ ورته بدعاء (ښیرئ) وکړې : (**اَللّٰهُمَّ مَزِّق مُلْکَهُ**) (اے الله ! بادشاهی ورله ټکړې ټکړې کړه) ، څو ورځی پس خپل ځوی مړ کړو ، او بادشاهی ئے تری واغستله ، دغه رنګه د مصر بادشاه مقوقس مسلمان خو نه شو لیکن د رسول الله ﷺ د أستازی ډیر احترام ئے وکړو ، او هغه سره ئے ډیري هدايا نبي كريم ﷺ له راواستولے ، او دغه شان حالت د روم د بادشاه قیصر هم وو، هغه هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم د خط خکلۍ جواب ورکړو، او د خط اکرام ئے وکړو او قاصد ته ئے هديي

وركړي ، او د بحرين حاكم منذربن ساوى واقعه داسى وه چې كله ورته د رسول الله ﷺ خط ميلاو شو، دا خط ئے بحرين والو ته بيان كړو، بعضو اسلام قبول كړو او بعضو انكار وكړو.

## د نبي كريم صلي الله عليه وسلم وفات

رسول الله ﷺ چې د حج نه واپس شو، نو دوه يا يوه نيمه مياشت پس د بيمارئ ابتداء وشوه، او ورځ په ورځ بيمارى زياتيدله تردى چې د مونځ امامت نه معذور شو، نو ابوبكر صديق رضى الله عنه ته ئے د امامت امر وكړو چې خلقو ته مونځ كوه، د هجرت يولسم (١١) كال د ربيع الاول په دولسمه (١٢) نيټه د ګل په ورځ د رسول الله ﷺ روح مبارك د دنيا نه سفر وكړو، پدى وخت كښې د رسول الله ﷺ عمر مبارك درى شپيته (٦٣)كاله وو، صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين چې خبر شو، ډير د غم او پريشانئ حالت وو، څوك دى خبرى منلو ته تيار نه وو ، بالآخر ابو بكر صديق رضى الله عنه خطبه وكړه ، مسلمانانو ته ئے د تسلئ خبرى وكړى، چې رسول الله ﷺ يو بشر وو، او هر بشر باندى به

مرګ راځی، ددی نه پس صحابه کرام مطمئن شو ، او رسول الله ﷺ له ئے غسل ورکړو ، او د عائشة رضی الله عنها په کوټه کښې ئے دفن کړو ، رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې څلویښت کاله (٤٠) مکه مکرمه کښې اُوسیدلو او دیارلس (١٣) کاله د نبوت نه پس مکه مکرمه کښې وو ، او مدینه منوره کښې رسول الله ﷺ لس (١٠) کاله اوسیدلئ دی ، د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په اتفاق سره د مسلمانانو اول خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه مقرر شو .

## د رسول الله ﷺ حلیه مبارکه

د نبی کریم ﷺ قد درمیانه وو نه ډیر لوئی او نه ډیرټیټ وو، ټول اندامونه ډیر مناسب ، فراخه سینئ والا وو ، خائسته مخ، سپین رنګ والا چی ګلابی کربنی پکښې ځلیدلئ ، غونډ مخ ، توری سترګے، باریکه پوزه، خائسته خوله ، ګنړه ګیره ، خائسته خوشبودار جسم ، نرم نرم اندامونه ، انس رضی الله عنه فرمائي چی ما مشك او عنبر او بله خوشبوئی د نبی کریمﷺ د خوشبوئی نه خائسته نده موندلی ، د نبی اکرم ﷺ لاس مبارک ډیر نرم وو ، تر او تازه خندیدونکئ مخ

مبارک، خائسته آواز ، مختصری خبری ، د رسول اللهﷺ په باره کښې انس رضی الله عنه فرمائی ، چې نبی کریم ﷺ د هر چا نه خائسته ، د هر چا نه زیات سخاوت والا، او د هر چا نه زیات بهادر وو .

## د رسول اللهﷺ اخلاق مبارک

رسول الله ﷺ يو بهادرا او با همته انسان وو ، علی رضی الله عنه فرمائی ، چې کله جنګ به ګرم شو او خلق به يوبل کښې ګډوډ شو مونږه به رسول الله ﷺ ته رامنډه کوله ،

رسول الله ﷺ د ټولو نه زيات سخاوت کونکی وو ، داسی چرته ندی شوی چې د رسول اللهﷺ چا څه غوښتلی وی او هغه ورته انکار کړی وی ، رسول الله ﷺ ډير د صبرناک او با وقاره مزاج والا انسان وو ، د خپل ځان دپاره چری انتقام ندی اغستلی ، او نه د خپل ذات دپاره په چا باندی غصه کړی ده ، او که د الله تعالی مقرر شوی حدود به مات شول د الله تعالی د خطره دهغی انتقام به اغستلو ، دحق په معامله کښې به خپلوان غريبانان او مالداره ټول د رسول الله ﷺ په نظر کښې ټول برابر وو، او دا تعليم امت ته ورکړی دی ، چې

اوچتوالی د یو په بل نشته دی مګر په تقوی باندی، ټول خلق دحقوقو په لحاظ سره برابر دی ، د مخکینو امتونو د هلاکت سبب هم دا وو چی یو مالداره سړی غلاء وکړه هغه به معاف ئی کړو او غریب سړی باندی به قانون جاری کوو رسول الله ﷺ فرمائل : په الله تعالی قسم ،که فاطمة بنت محمدﷺ هم غلاء کړی وی ما به د هغی لاس هم پریکووو (صحیح البخاری٣٤٧٥:ومسلم ١٦٨٨) رسول الله ﷺ په خوراک کښې چرته هم عیب نه راوباسلو ،که خوښ به شو نو خوراک به تری وکړو او یا به پرښودلو ، کله به یو میاشت دوه میاشتی تیری شوی او د رسول الله ﷺ په کور کښې به اور قدرته بل نشو، درسول اللهﷺخاندان والو به په اوبه او کهجورو باندی وخت تیرولو ، رسول اللهﷺ به د لوږی د لاس خیټې پوری یو یا دوه کانړی تړل ، د کور په کارونو کښې به د کوروالو سره مدد کولو د بیمارانو بیمار پورسی له به ورتللو ، عاجزی او تواضع په نبی ﷺ کښې ډیره زیاته وه ، غریب سړی او مالدار عام انسان او صاحب حیثیت چابه چی راوبللو راتللو به ، د غریب نه د هغه د غربت د وجی نه نفرت نکوو او د بادشاه نه د هغه د بادشاهت د وجی نه یره

نڪوله ، آس ، اوښ ، خر ، خچر، هر قسم سورلئ باندی سورلی کوله ، اګر چی نبی ﷺ هر طرفنه تڪليفونو او مشکلات کښی راګير وو ليڪن سره ددی نه ډير پراخه او خوشحاله مخ واله او خوش اخلاقه انسان وو ، خوشبو د نبی ﷺ ډيره خوښه وه ، د بدبوئی نه به ئی ځان ساته ، الله تعالی نبی ﷺ له عظيم اخلاق او ښائسته کردار ورکړی وو ، الله تعالی ورله داسی عظيم علم ورکړی وو، چی مخکينو او روستنو خلقو کښی چاله هم ندی ورکړی شوی ، حالانکه نبی ﷺ اُمّی وو ، يعنی ليکل او لوستل ئی نه شو کولی ، هيڅ انسان ورله تعليم نه وو ورکړی ، دا قرآن کريم ئی د الله تعالی د طرفنه راوړی دی ، الله تعالی د قرآن کريم باره کښی فرمائی:

**[قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنْسُ وَالجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا القُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا] {الإسراء:88}**

ترجمه : اے نبی ﷺ ووايا ،که چرته ټول انسانان او پيريان راجمع شی چی د قران پشان مثل راوړی ، د قرآن مثل نشی راوړلی ، اګر که د يو بل مددګاران وی.

د اعتراض کونکو د خُولئ د بندولو دپاره نبي ﷺ د اول نه اُمّي وو(يعني ليکل او لوستل ئی نشو کولی) چی بيا دا وونه وائی چی دا قران ئی ليکئ دی يا ئی د چانه زده کړی دی او يا ئی د مخکښنی کتابونونه أغستلی دی.
معجزات : د نبي ﷺ عظيمة معجزة قرآن دی ، داسی معجزة ده چی تر قيامت پوری به موجوده وی ، او څوک ئی هم مقابله نشی کولی ، الله تعالی ټولو خلقو لره دعوت ورکړی دی ددی قرآن مقابلئ ته چی ددی قرآن پشان لس سورتونه راوړی ، او يا يو سورت راوړی او يا لس آياتونه راوړی ، د مشرکانو بے بسی د قران د معجزی دليل دی ،

## د نبي ﷺ د نورو معجزات تفصيل دادی

يوه ورځ د مکی مشرکانو د نبي ﷺ نه د معجزی مطالبه وکړه د الله تعالی په حکم باندی نبي ﷺ سپوږمئ طرفته ايشاره وکړه ، سپوږمئ دوه ټکړی شوه ، ډير کرت د نبي ﷺ د ګوتو مبارکو نه به معجزةً اوبه روانئ شوی ، کانړو د نبي ﷺ په لاس مبارک کښی د الله تعالی ذکر کولو ، نبي ﷺ هغه کانړی د ابوبکر رضي الله عنه په لاس کښی کيښودل بيا د عمر رضي الله عنه

بيا د عثمان رضي الله عنه په لاس کښې او بيا به هم د الله تعالى ذکر کولو ، د نبي ﷺ په موجودګۍ کښې صحابو رضوان الله عليه أجمعين د طعام نه د الله تعالى ذکر أوريدلى دى ، کاڼړو او ونو به نبي ﷺ ته سلام پيش کولو ، د چيلۍ هغه ليچه چې نبي ﷺ له ئې خبر ورکړو چې د يهوديانو يوى ښځې پکښې زهر أچولى وو ، يو بانړه چې د نبي ﷺ نه د معجزى مطالبه وکړه نبي ﷺ ونى ته ايشاره وکړه ، ونه راروانه شوه او د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضره شو ، او بيا واپس خپل ځائې ته لاړه ، د يوى ګډې غُلانزه کښې پيۍ نه وو ليکن د نبي ﷺ لاس مبارک د مسحه کيدو سره پکښې پيۍ راغلل، نبي ﷺ پخپله هم وڅکل او ابوبکر رضي الله عنه له ئې هم ورکړل ، د علي رضي الله عنه سترګې خوږ شوى وى ، نبي ﷺ ورباندى خپلې خولۍ مبارکې لاړې ولګولې سترګې ئې روغې جوړې شولې ، د يو صحابي خپه زخمي شوى وه ، نبي ﷺ ورباندى خپل لاس مبارک راښکل خپه ئې بلکل صحيح شوه ، رسول الله ﷺ د أنس بن مالک رضي الله عنه په حق کښې دعاء کړې وه ، اے الله دده په عمر مال او اولاد کښې برکت واچوى ، أنس رضي الله عنه پخپل عمر کښې (١٢٠) يوسل شل بچۍ وشميرل او د أنس رضي الله عنه

كهجورو به په كال كښې دوه ځله كهجورى كولى او الله تعالى ورله (۱۲۰) يوسل شل كاله عمر وركړى وه ، نبى ﷺ په منبر باندى د خُطبې دپاره ولاړ وو يو صحابى راغلى د باران د دعاء درخواست ئې وكړو نبى ﷺ پوراً لاسونه اوچت كړل ، چه آسمان كښې وريځ نوه په انً فنً كښې د غرونو پشان وريځې راغلى او تر بلې جُمعې پورى ډير زيات باران راووريد، په راتلونكې جُمعه باندى دغه صحابى د باران د ډير والى شكايت وكړو ، نبى ﷺ د الله تعالى نه دعاء وكړه او باران بند شو، او خلق د مسجد نه بهر ووتول په داسى حال كښې چې نمر راختلى وو، په غزوه خندق كښې د خندق په كنستلو كښې تقريبا زر(۱۰۰۰) كسان شريك وو، دوه يا درى كيلو وربشى او يوه چيلئ وه ټولو خلقو ددى طعام نه ځان مړكړو او خوراک بيا هم كم نه شو ، او دغه شان د بشيربن سعد رضي الله عنه لور خپل پلار او ماما له لږى شان كهجورى راوړى ، نبىﷺ دغه معمولى كهجورى په ټولو خندق واله باندى وخوړلى ، او پدى موقع كښې ابوهريرة رضي الله عنه سه لږ شان طعام تيار كړو، نبى ﷺ په ټول لښكر باندى برابر وخوړلو ، په مكه كښې د قريشو تقريبا سل(۱۰۰) ځوانان

د نبي ﷺ د کورنه بهر په دی انتظار وو ، چه (معاذالله) نبي ﷺ به قتل کړی ، ليکن نبي ﷺ ددی ځائی نه لاړو او ددوی په سرونو باندی ئی خاوری هم واچوالی دوی ورباندی پوهه نه شو ، سراقه بن مالک د هجرت به موقع باندی د نبي ﷺ د قتل (معاذالله) دپاره کله چی نبي ﷺ ته ورنيزدی شو نبي ﷺ ورته بددعاء وکړه د هغه دآس مخکښنی خپۍ په زمکه کښی ورننوتلی.

## د نبي ﷺ د سيرت نه اغستلئ شوی درسونه
## خوش طبعيتي

نبي ﷺ به د خپلو ملګرو سره کله کله خوش مزاجی کوله ، ليکن په ګپ کښی به ئی هم حق خبره کوله ، د خپل کور واله سره به ئی هم خوش مزاجی کوله ، او د ماشوانو خيال به ئی هم ساتلو ، د خپل وخت نه به ئی ماشومانو له حصه ورکوله او د هغوی د حيثيت مطابق به ورسره برتاؤ کولو ، کله به ئی خپل خادم أنس بن مالک ﵁ عنه سره مزاح کوله نو ورته به ئی وئيلی (يا ذالاذنين) اے د دوه غوږونو والا ! يو سړی درخواست وکړو ، چی اے د الله رسوله ماله سورلئ راکړه ، نبي ﷺ ورته د مزاح په انداز کښی اوفرئيل : د اُوښی بچئ

به درکم هغه خفه شو چی د اُوښی په بچئ به سنګه سورلئ کوم ، نبی ﷺ ورته وفرمائیلی، هر اُوښ د یوی اُوښی بچی وی ، همیشه به د
نبی ﷺ په مخ مبارک باندی مُسکاء وه او د مخ مبارک نه به ئي رنړا ځلیدله ا او صحابؤ رضوان الله اجمعین به تری همیشه د خیر خبری أوریدلی ، جریر رضي الله عنه فرمائی ، کله چی زه مسلمان شوم ، نبی ﷺ زه د خپل ملاقات نه منع نه کړم ، او کله به چی ما ورته کتل د نبی ﷺ په مخ مبارک به مُسکاء وه ، ما ورته وئیلی: اے د الله رسوله! زه په آس باندی نشم کلک کیناستلی ، نبی ﷺ په خپل لاس مبارک زما سینه ووهله او دا دعاء ئی راته وکړه.
(اللّٰهُمَّ ثبته واجعله هاديا مهديا) صحيح البخاری ۳۰۳۶
ترجمه: اے الله ! دی مضبوط کړی او هدایت واله ئی وګرزوی ، او دغه شان به نبی ﷺ به د خپل کورنی خلقو سره هم خوش مزاجی کوله ، یوه ورځ نبی ﷺ د خپلی لور فاطمی رضی الله عنها کور ته ورغلی ، علی رضي الله عنه کور کښی نه وو ، تپوس ئی وکړو چرته دی ، فاطمی رضی الله عنها وفرمائیل ، زما او د هغه سره په سه خبره باندی جګړه راغله

غوصه شو بهر لاړو ، نبي ﷺ چې راغلی ، علي رضی الله عنه په جومات کښې ملاست وو او څادر ئې د ملأ نه غورزيدلی وه ، نبي ﷺ په خپل لاس مبارک باندې ترې خاورې سنډلې او ورته ئې وئيلې (قم أبا تراب) د خاورو پلار پاسيږه..

## د ماشومانو سره د نبي ﷺ سلوک

د نبي ﷺ د خائسته اخلاقو نه د ماشومانو دپاره پوره حصه وه عائشة رضی الله عنها سره به ئې کله منډه وهله ، عائشة رضی الله عنها به د خپلو ملګرو ماشومانو جنکو سره په ګوډيګانئ لوبې کولې ، نبي ﷺ به نه منع کوله ، عائشه رضی الله عنها فرمائيل : ما به د نبي ﷺ په کور کښې د خپلو ملګرو جنکو سره لوبې کولې ، چې کله به نبي ﷺ کورته راغلی دوی به پټيږ شوی ، نبي ﷺ به دوی په خپله د لوبو دپاره راليږلې چې زما سره لوبې وکړی ، نبي ﷺ به د ماشومانو سره مينه هم کوله او خيال به ئې هم ورله ساتلو ، عبدالله بن شداد رضی الله عنه د خپل پلار نه اوريدلی دی ، چې يو ورځ نبي ﷺ د ماسخوتن مونځ دپاره تشريق راوړلو ، حسن يا حسين رضی الله عنهما ئې أغستلی وه ، ماشوم ئې کينوؤ او په

جماعت باندی مونځ ئی شروع کړو ، اوږده سجده ئی وکړه ، د عبدالله رضي الله عنه پلار شداد رضي الله عنه وائی ، ما د سجدی نه سَر أوچت کړو، ماشوم د نبي ﷺ په شاه باندی ناست وو او نبي ﷺ په سجده باندی وو ، هغه فرمائی زه دوباره سجدی له لاړم ، چې کله د مونځ نه فارغه شو ، خلقو وئیلی، اے د الله رسوله ! سجده دی ډیره أوږده وکړه ، زمونږه ګمان راغلی که تاله سه وشوؤ یا وحی نازلیږی ، نبي ﷺ وفرمائیل، داسی هیڅ نه وو بلکی زما بچی زمانه سورلئ جوړه کړی وه ، مانه ښُه ښکاره چې تلوار ورباندی وکړم تر دی چی خپل حاجت پوره کړی ، أنس رضي الله عنه فرمائی: نبي ﷺ د هر چانه د خائسته اخلاقو مالک وو، زما ماشوم رور ته ئی وئیلی ، اے ابو عمیر! هغه (بَلبَله)د مرِغئ بچی دی څه کړو، د أنس رضي الله عنه رور به دغه مرغئ سره لوبئ کولی ، او داسی خبرو سره به هغه خوشحاله کیدو.

## د نبي ﷺ برتاؤ د خپل کوروالو سره

د خپلو کور والو سره به نبي ﷺ په ډیره تواضع سره پیش راتللو ، د کوروالو د ضرورتونو به ئی ډیر خیال ساتلو ، او د زنانه د ذات به ئي قدر کولو که هغه به د مور په صورت

کښې وه او که د ښځې يا د خور په صورت کښې، يو سړی د نبي ﷺ نه تپوس وکړو چې زما د خائسته سلوک د ټولو نه ډير ځوک حقدار دی ، نبي ﷺ ورته وفرمائيل ، چې ستا مور ، بيا ستا مور ، بيا ستا مور ، او بيا ستا پلار ، او نبي ﷺ فرمائيلی دی ،ځوک چې مور او پلار دواړه يا يو په بوډاتوب کښې وومومي او د هغوی د خدمت ونه کړی ، اُور ته به ځی او الله تعالی به ئې په اُور کښې لری ګزار کړی ، د نبي ﷺ د خائسته اخلاقو حال دا وه که (أم المومنين) کښې به يو بي بي په لوښې کښې أوبه وڅکلې نبي ﷺ به په هغه ځائې خوله کيښودله او أوبه څکلې په کم ځائې چې هغې خوله لګولی وه ، نبي ﷺ به فرمائيل: چې تاسو کښې بهتره هغه ځوک دی ، چې د خپل کورواله دپاره بهتره وی او زه د خپل کورواله دپاره د ټولو نه بهتره يم .

## د رحمتونه باران

د رحمت باره کښې د نبي ﷺ فرمان دی ، ځوک چې رحم کوی ، رحمن ذات په هغه باندی رحم وکړی ، زمونږه نبي ﷺ ته ده ددی اخلاقو نه پوره حصه ورکړی شوی ده ، نبي ﷺ به د ټولو خلقو سره برتاؤ د شفقت او رحم نه ډک وو، د نبي ﷺ

د شفقت او رحمت به هغه وخت په نظر راتللو چې کله به د ماشوم ژړه واوريدله نو مونځ به ئې ورته مختصر کړو ، ابو قتاده رضي الله عنه فرمائي ، رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : زه مونځ ته اُديږم دا مې اراده وی چې اُږد مونځ به وکړم ، ليکن د ماشوم د ژړا آواز واورم نو مونځ رالنډ کړم ، دا بده ګڼړم چې د ماشوم مور په فتنه کښې واقع شي ، (الصحيح البخاری)

نبی ﷺ د خپل أمت دپاره ډير رحيم او مشفق وه ، د ټولو نه زيات حرص ئې دا وه چې ټول خلق د الله تعالى په دين کښې داخل شی ، يو يهودی ماشوم ناجوړه وو ، چې د نبی ﷺ خدمت به ئې کولو ، نبی ﷺ د هغه بيمار پرسئ دپاره تشريف راوړو، نبی ﷺ ورته د اسلام دعوت وکړو چې اسلام کښې داخل شه هغه خپل پلار ته وکتل ، چې دهغه د سر په خواء کښې ولاړ وو ، پلار ورته وئيلی: د ابوالقاسم ﷺ خبره ومنه ، ماشوم اسلام قبول کړو، او بيا لګ وخت پس وفات شو ، نبی ﷺ دا وئيلی او دهغه ځائی نه راوتلو ، الله تعالى دپاره شکر دی چې دا ماشوم ئې د أور نه خلاص کړو،

## د نبي ﷺ د صبر مثال

د نبي ﷺ ټوله زندګی د صبر نه عبارت ده ، صبر کول او خلقو ته د صبر تلقين کول جهاد کول ، او خلقونه د جهاد تلقين کول نبي ﷺ ټوله زندګی ده ، کله چی په نبي ﷺ باندی اولنی آيات نازل شو ، تر د آخرنی لحظه د ژوند پوری صبر کړی دی ، او نورو ته ئی د صبر حکم کولو ، د نبوت نه پس نبي ﷺ ته دا خبره معلومه وه چه پدی لاره کښې ډير سختيانئ او تکليفونه دی ، کله چی جبريل عليه السلام اولنی وحی راوړه ، خديجة الکبری رضی الله عنها نبي ﷺ ئي د ورقه ابن نوفل خواء له راوستلو ، ورقه نبي ﷺ ته اوئيلی : آرمان دی چی زه هغه وخت پوری ژوندی وی چی کله ستا قوم ته د خپل وطن نه وباسئ (او ما ستا مدد کړی وی) نبي ﷺ په حيرانتياء سره تپوس وکړو ، آيا دوی به ما خپل وطن نه أوباسئ ؟ ورقه أوئيلی هاؤ ، څوک چی هم د الله تعالی پيغام باندی خلقو ته راغلی دی ، هغه سره دشمنی کړی شوی ده ، ددی وجی نه د اول نه نبي ﷺ خپل ځان د مشکلاتو او تکليفونو دپاره تيار کړی وه ، نبي ﷺ ته معلومه وه چی تکليفونه به وی سازشونه به وی او دشمنی

به هم وی ، د نبی ﷺ د صبر مثالونه خو ډیر دی یو څو به ذکر کړو، مکه مکرمه کښې نبی ﷺ قریشو ته د توحید دعوت ورکولو او قریشو به نبی ﷺ ته ډیر تکلیفونه ورکول، عروة بن الزبیر رضي الله عنه د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه تپوس وکړو چی قریشو نبی ﷺ ته ډیر سخت تکلیف کم وخت ورکړی وو د هغه تفصیل راته بیان کړه ، عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه اوفرمائیل: یوه ورځ نبی ﷺ په خانه کعبه کښې دننه مونځ آداء کولو ، عقبة ابن ابی معیط راغلی ، خپل څادر ئی د نبی ﷺ په مرئ مبارکه کښې واچولو او په زور سره ئی راښکلو د نبی ﷺ ساه مبارکه بنده شوه ،
ابو بکر صدیق رضي الله عنه راغلی ، عقبة ئی د أوږو نه ونیولو او د نبی ﷺ نه ئی لری دِیکه کړو ، اوفرمائیل ئی : آیا تاسو داسی سړی مړ کوی چی وائی ، زما رب الله دی ،
یو ورځ نبی ﷺ د بیت الله په خواء کښې مونځ آداء کولو ، ابوجهل د خپلو ملګرو سره ناست وو ، یوبل ته ئی أوئیلی ، څوک به د فلانئ قبیلئ د ډیران نه د اوښانو ګُلمے او لرئی سُپری راوړی او چی (نبیﷺ ) سجدی دپاره لاړ شي نو دغه لرئ سُپری ورباندی د پاسه وروأچوی ، یو بدبخته انسان

پاسيدو او دغه د اوښانو لرئ سُپرى ئي راوړل ، كله چې نبي كريم ﷺ سجدى دپاره لاړو ، دغه ګندګى ئى د نبي ﷺ د اُږو مينځ كښې واچوله كافرانو خاندل او يو بل باندى ورغورځيدل د ډيرى خنده د وجې نه ، او نبي ﷺ په سجده باندى وه ، نشو راپاسيدلو تردى چې د نبي ﷺ لور فاطمة رضى الله عنها راغله او د نبي ﷺ نه ئى هغه ګندګى لرى كړه ددى جسمانى تكليف نه زيات نفسانى تكليف وو، چې د نبي ﷺ دعوت ئى نه منلو ، د درغو نسبت ئى ورته كولو ، نبي كريم ﷺ ته ئى(نعوذبالله) ليونئ ، شاعر، درويتئ ، جادوګر ، پشان نسبت كولو ، او د قران كريم د آياتونو ته به ئى پخوانئ د دروغو قِصيئ وئيلى ، ابو جهل يو ورځ د مسخرئ په طور وئيلى ، اے الله ! كه چرته دا نبي په حقه وى ، او ستا د طرف نه راغلى وى ، او مونږه ئى نه منو ، د آسمان نه په مونږه باندى د كاڼو باران وكړه او يا بل قسم دردناك عذاب راكړه ، د ابولهب دا حال وه ، چې كله به نبي ﷺ يوځائى ته د دين د دعوت دپاره تللو ، ابولهب به نبي ﷺ پسى دى دپاره تللو چې خلق د نبي ﷺ د تابعدارى نه منع كړى ، او بل طرفته د ابولهب ښځه ام جميل د نبي ﷺ دتلو راتلو لار كښې به ئى

أزغي اچول ، چې تكليف وروړسوي ، په هغه وخت كښې تكليف انتهاء ته رسيدلې وو ، كله چې نبي كريم ﷺ د خپلو ملګرو او رشته دارو سره په شعب ابي طالب كښې محصور شوې وه ، تر دې پورې چې د سختۍ لوږې د وجې نه د ونو پاڼو خوراک ته مجبوره شوې وو ، او په غم كښې هغه وخت اضافه وشوه چې خديجه رضي الله عنها وفات شوه ، او په دغه كال ابوطالب هم وفات وشو ، چې د نبي ﷺ به ئې په هرميدان كښې دفاع كولو ، او ددې وجې نه هم دغه غم ډېر سخت وو چې ابو طالب په كفر باندې وفات شو ، ددې نه پس مشركانو د نبي ﷺ د مرګ كوشش شروع كړو ، مجبوراً نبي ﷺ خپل وطن مكة پريښودله ، او مدينې ته ئې هجرت وكړو ، ليكن د تكليف او د قرباني سلسله مدينه كښې هم جاري وه ، نبي ﷺ دتكليف او مشكلات نه ډک ژوند تيرولو كله د دشمنانو د طرفنه تكليف كله د لوږې د وجې نه خپلې خيټې مباركې پورې ګټهې تړل داسې سخت ژوند نبي ﷺ تيرولو ، د نبي كريم ﷺ فرمان دې ، زه د الله تعالى په لار كښې دومره يرولې شوې يم چې بل څوک دومره ندې يرولې شوې ، او ماته د الله تعالى د وجې دومره تكليفونه راكړې

شوی دی ، چی بل چاته ندی ورکړی شوی ، په ما باندی دیرش (۳۰) ورځی او شپی داسی تیری شوی دی ، زما او د بلال دپاره د خوراک دومره څه نه وو ، چی یو ساه أغستونکی ورباندی ګزاره وکړی ، بس دومره څه به وو چی د بلال په پلسکی(ترخ) کښی راتلل ، (سنن ابن ماجه۱۵۱ ) شیخ البانی ورته صحیح وئیلی دی ، نبی ﷺ ته یقینا هر قسمه تکلیفونه د کافرانو او د منافقانو د طرفه ورکړی شوی وو ، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی: یو موقع باندی نبی ﷺ سه مال وغیره تقسیم کړو ، یو انصاری أوئیلی : محمد ﷺ په دی تقسیم کښی انصاف ونه کړو ، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وائی زه راغلم نبی ﷺ ته می خبر ورکړو ، د نبی کریم ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو ، او وفرمائیل ئی: الله تعالی دی په موسی علیه السلام باندی رحم وکړی ، هغه ته ددی نه هم ډیر تکلیف ورکړی شوی وه او هغه صبر کړی وه ، صحیح البخاری ، کم وختونو کښی چی نبی ﷺ ډیر صبر کړی دی په هغی کښی یو د نبی ﷺ د اولاد وفات دی ، د نبی ﷺ ووه (۷) بچی وو او ټول یو بل پسی وفات شول سواء د فاطمة الزهری رضی الله عنها نه ، نبی ﷺ د تکلیفونو د وجی نه

کمزوری شوی نه وو ، بلکه صبر جمیل ئی کړی وو ، کله چی د نبي ﷺ ځوی ابراهیم علیه السلام وفات شوی وه د سترګو نه ئی أوښکی روانی وی او زړه ئی غمجن وو ، فرمائیل ئی ، مونږه هغه خبره کوو چی زمونږه ربورباندی راضی وی ، اے ابراهیم مونږه ستا په جدائی باندی غمجن یو (البخاری ۱۲٤) د نبي ﷺ صبر صرف تکلفونو باندی نه وو بلکه دا الله تعالی عبادت ئی هم په کامله طریقه کولو ، د أوږد قیام د وجی نه به ئی خپے مبارکی أوپھړسیدلی ، ډیری نفلی روژی به ئی نیولی او په عبادت کښې یه ئی کافی وقت مصرف کولو ، د نبي ﷺ نه د ددی ډیر عبادت باره کښې تپوس وکړی شو نبيﷺ أوفرمائیل : آیا زه د الله تعالی شکر ګزار بنده جوړ نشم .

## زُهد د دنیا نه بے رغبتی

د زهد لفظ د هغه انسان دپاره استعمالیږی ، چی د هغه دپاره د دنیا نعمتونه بسیاره وی ، لیکن هغه د بے رغبتی د وجی نه تری مخ أړوی ، او نبي ﷺ د هر چانه زیات د دنیا نه ډیر بے رغبتی کونکے وو ، هغه سه چی د سخت ضرورت پورا کولو

دپاره به كافي وه په هغې باندې به راضي وو ، سخته زندگي ئې تيروله ، حقيقت كښې نبي ﷺ د الله تعالى محبوب وه كه د الله تعالى نه ئې مطالبه كړې وې ، الله تعالى به ورله هرقسمه نعمتونه وركړي وو ، امام ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير كښې د خيثمه رضي الله عنه په روايت باندې نقل كوي چې نبي كريم ﷺ ته د الله تعالى د طرفنه دا پيشكش وكړې شو چې كه ستا خوښه شي ، د زمكې ټولې خزانې به ستا مخې ته حاضرې شي د هغې د ټولو چابيانو مالك به ته ئې ، دومره مال دولت به الله تعالى دركړي ، چې مخكښې هيڅ يو نبي ته ئې ندي وركړي او نه به روستو چاته دومره وركړي ، او ددې د وجې به ستا د الله تعالى په نيز هيڅ قسمه كموالى هم نه راځي ، نبي كريم ﷺ اوفرمائيل : دا ټول نعمتوه زما دپاره آخرت ته أوساتلې شي د نبي ﷺ دنيوي زندگي ډيره حيرانونكې ده ، أبوذر رضي الله عنه فرمائي ، زه د نبي كريم ﷺ سره د مدينې په كاڼجنه زمكه كښې روان ووم ، ناڅاپه د أحد غر مخكښې ته ښكاره شو، نبي كريم ﷺ وفرمائيل: زه په دې خبره هيڅ كله هم نه خوشحاله كيږم ، چې زما سره دې د أحد د غر په مقدار باندې سرزر وي او درې ورځو كښې د هغې نه ماسره يو

درينا هم پاتې شوې وې ، مګر صرف دومره مقدار چې خپل قرض ورباندې آداء کړم او باقي د الله تعالى په بندګانو باندې ښئ طرفته او ګس(چپ) طرفته مخکښې او روستو ټول مال تقسم کړم ، نبي كريم ﷺ به فرمائيل: زما د دنيا سره څه كار دی ، زما مثال پشان د هغه شاه سوار مسافر دی چې د يوې ونې سُورې ته دمه وکړي او بيا د هغه ځائې نه روان شي،

## خوراک څښاک او لباس

د نبي ﷺ د خوراک دا حال وو ، چې يوه مياشت دوه مياشتې درې مياشتې به كله تيرې شوې او د نبي كريم ﷺ په كور كښې به أور قدرته هم بل نشو ، بس دوه تور څيزونو باندې به ئې ګزاره کوله کجهورې او أوبه ، كله به ټوله ورځ د لوږې د وجې نه په تڪليف كښې وو، او د خوراک به هيڅ هم نه وو چې خوړلی ئې وی ، په عمر چرته نبي كريم ﷺ د ميده أوړو ډوډۍ نده خوړلې ، د نبي كريم ﷺ خادم فرمائي ، چرته نبي ﷺ دوه وخته مسلسل ډوډۍ او د غوښې شوروه ندې خوړلې وی ، مګر كه چرته ميلمانه به راغلی وو ، نبي كريم ﷺ به لباس هم ډير قيمتي نه استعمالو ، صحابه رضوان الله

عليهم أجمعين فرمائی ، نبی ﷺ د لباس متعلق ډير بې تكلفه وو ،كه چرته نبی ﷺ غوښتلی نو قيمتی لباس به ئی استعمال كړی وی ، يو صحابی د نبی ﷺ د لباس ذكر كوی فرمائی ، د څه خبری دپاره زه د نبی ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم ، د نبی ﷺ لنګ مبارک د غټې وړئ واله كپړه وه ابو بردة رحمه الله د عائشة رضی الله عنها په خدمت كښې حاضر شو ، هغې يو څادر رواغستو چه پيوند پكښې لګيدلی وو او يو لنګ چه د غټې وړئ واله وو، او بيا ئی أوفرمائيل: رسول الله ﷺ پدی كپړو كښې د دنيا نه رخصت شوی دی ، أنس رضي الله عنه فرمائی ، زه د رسول الله ﷺ سره روان ووم ، او د نبی ﷺ په بدن مبارک باندی نجرانی څادر وو چی د هغې غاړی غټې وی،

نبی ﷺ د وفات په وخت كښې د ځان نه روستو هيڅ قسمه دينار ، درهم ، غلامان او وينځې نوی پريښودلی ، سواء د يو سپين قچر ، ذاتی اسلحه او سه معمولی زمكه چی هغه ئی هم صدقه كړی وه ، عائشة رضی الله عنها فرمائی ، چی كله رسول الله ﷺ د دنيا نه رخصت شو زمونږه په كور كښې د خوراک څښاک دپاره هيڅ نه وو ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت

کښې د هغه زغرا د يو يهودی سره د سه وربشو په عوض کښې په ګروی کښې پرته وه .

## د رسول الله ﷺ عدل او انصاف

نبی ﷺ هر لحاظ سره د عدل او انصاف قائم کونکی وه ، د خپل رب سره ئې معامله په عدل وه يعنې د الله تعالى حقونه به ئې په انصاف سره آداء کول ، د خپل ځان سره به ئې عدل کولو ، د خپلو بيبيانو سره عدل کولو ، د رشتدارو سره د عامو انسانانو سره که موافق به وو او که مخالف تردې پورې چې د متکبر دشمن سره به ئې هم عدل او انصاف کولو ، په حالت د سفر او حضر کښې به نبی ﷺ خپل ځان په ملګرو باندې نه غوره کولو د هغې پشان تکلفونه به ئې په خپله هم برداشت کول ، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی ، د عزوه بدر په موقع باندې د سورلۍ دپاره د هر دريو کسانو په سر باندې يو أوښ وو ، ابو لبابة او علی رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ د أوښ ملګری وه چې کله به د رسول الله ﷺ د پيدل تللو نمبر راغلی و دوارو صحابو به په يو آواز وئيلی ، اے د الله رسوله ! مونږه به پياده زو ته د سورلۍ نه مه راکوزيږه ، نبی

ﷺ وفرمائیل : تاسو دواړه نه زمانه ډیر طاقتور ئي او نه زه د أجرنه بے نیازه یم .

أُسید بن حضیر رضي الله عنه خپلو ملګرو سره ګپ شپ لګولو ، او هغوی یے خاندول ، نبي ﷺ یو لرګئ د هغه ترخ ته ورنیزدی کړو ، أُسید بن حضیر رضي الله عنه اوفرمائیل ، اے د الله رسوله ! ماله دی تکلیف راکړو ، ما لا د بدل اغستلو موقعه راکړه ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمائیل ، راشه خپله بدله دی واخله هغه وئیلی ستا بدن مبارک باندی قمیص دی او زما قمیص نه وو ، نبي کریم ﷺ خپل قمیص پورته کړو ، أُسید بن حضیر رضي الله عنه د نبي کریم ﷺ مبارک بدن پسی ورجبنت شو او د نبي ﷺ بدن مبارک ئی خُکل کړو او وفرمائیل ئی اے د الله رسوله زما آرمان وو چی زه ستا پاک بدن خُکل کړم ،

رسول الله ﷺ د الله تعالی مقرر شوی حدود پامال کول نه شو برداشت کولی ، دی دپاره چی د خلقو مینځ کښی انصاف وکړیشی ، اګر که خطاء کار به د نبي ﷺ رشتدار یا نزدی دوست ولی نه وو ، د بنو مخزوم قبلئ یوی ښځی غلاء کړی وه ، خلقو د سزاء د معاف کولو دپاره سفارش وکړو تردی پوری چی أُسامه رضي الله عنه هم سفارش وکړو او سفارش ئی قبول نه

شو ، او نبی کریم ﷺ هغه تاریخی الفاظ بیان کړل ، چی نن هم د قانون اسلام روح دی ، وفرمائیل : اے خلقو ستاسو نه مخکښې خلق صرف ددی د وجی نه هلاک شوی دی چی که په هغوی کښې به مالداره غلاء وکړه هغه به ئی معاف کړو ، او که یو کمزوری انسان به غلاء وکړه نو هغه باندی به ئی حد قائم کړو ، د الله تعالی په ذات باندی قسم دی ، که بالفرض فاطمه لور د محمد ﷺهم غلاء کړی وی ما به د هغی هم لاس پری کړی وی ،

## د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل فکر رائی

د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل مغرب فلاسفه او مستشرقین (orientalists) د آراء نه معلومه ده چی هغوی هم د رسول الله ﷺ د عظمت قائل وه ، ځوک چی اسلام یا پیغمبرِ اسلام پسئ پراپیګنډی کوی ، دوی د تعصب او عناد د وجی نه دشمنی کوی ،

برطانوی فلاسفی برناډشو،( George Bernard Shaw) خپل «کتاب محمد ﷺ (چی روستو د انګریز حکومت سوزولی وه) کښې لیکلئ دی ، ددی وخت خلق د محمد ﷺ د

راوړلی شوی فکر ډیر زیات محتاجه دی ، دی نبی همیشه خپل دین ته د عزت او احترام حیثیت ورکړی وه ، د هری معاشری ضرورت پوره کونکی د ټولو نه ډیر کامیاب دین دی او د هر ضرورت پوره کولو صلاحیت لرونکی دی ، زه وینم چه ډیر انګریزان په روښانه سترګو سره او په دلیل باندی د پوهی نه پس پدی دین کښې داخلیږی په براعظم یورپ کښې ددی دین د خورولو ډیر مواقع موجود دی ،

برناډشو وائی : عیسائی علماؤ په قرون وسطی کښې د خپل جهالت او عصبیت د وجی نه ددین محمد ﷺ غلط تصویر خلقوته ښودلی وو ، او خلقوته ئی د عیسائیت دشمن په ښودلو چی کله ما په خپله ددی دین مطالعه وکړه ، ما ته دا حیران کونکی معجزه معلومه شوه ، او پدی نتیجه باندی ورسیدم چی دی دین ته د عیسائیت دشمن نه بلکه د انسانیت د نجات لاربښود وئیل پکار دی ، زما رأیی داده چی که دا عظیم انسان پدی زمانه کښې د انسانیت انتظام ذمه واری قبوله کړی، زمونږه ټول مشکلات په حل کړی او دنیا کښې به آمن او خوشحالئ راولئ چی خلق ورپسئ ترسیږی ،

نوبل انعام والا انګریز فلاسفر توماس کارلیل ( Thomas) Carlyle لیکلئ دی ، په دی زمانه کښې د یو انسان دپاره غټ جرم دادی ، چې داسې خبروته غوږ کیږدی چې اسلام ته پکښې دروغژن وئیلې کیږی ، دداسې فضول خبرو خلاف جهاد کول پکار دی ، هغه پیغام چې دی ، رسول ﷺ راوړلی دی ، هغه اوس د دولس (۱۲) صدیو نه پس هم د نمر پشان ځلیږی ، تقریبا دوه ارب انسانان دغه دین منی، څوک انسان دا ګمان کولی شی چې په کروړنو خلق بغیر د تحقیق نه دا دین منلی شی ، او دا ټول دړغ دی ، نه هیڅ کله هم داسې نه ده،

هندستانی فلاسفر راماکرشنا وائی : کله چې محمد ﷺ تشریف راوړو ، جزیره عربیه صرف صحراء وه ، دنیا ورته هیڅ توجه نه کوله ، لکن محمد ﷺ په خپلو روحانی کارنامو یو نوی جهان د زمکې په مخ پیداء کړو ، او خلقوته ئې یو نوی ژوند ورکړو او د یو نوی تهذیب بنیاد ئې کیښود ، یو نوی حکومت ئې قائم کړو ، چې د هغې یوه طرف مراکش او دوهم طرف د براعظم هندوستان پورې رسیدلی دی ، او د

ايشياء ، افريقة ، يورپ د خلقو په سوچ او عملي ژوند باندې اثرانداز شو،

کينيډين، فلاسفرزويمر(S.M.Zweimer)

وائي : بے شکه محمد ﷺعظيم ديني قائد او رهنما وه ، دهغه په ذات باندې دا خبره بلکل ربنتنې ثابتيږي ، چې هغه يو عظيم اصلاح کونکی ، وضاحت کونکی ، داعي ، خطيب بهادر او نه يريدونکی وه ، او کم صفات چې ددې مذکوره صفاتو نفي کوي ، هغه صفات ورته نشي منسوب کيدلی ، او قرآن چې پيغبر راوړلی دی هغه قران ئې د رشتنوالي ګواه دی،

انګريز فلاسفر سرويليم

(Sir William Muir) وائي :يقينا محمد ﷺ چې د مسلمانانو نبي دی ، د (مکې) ښار د أوسيدونکو په اتفاقي فيصلئ سره ئې د صادق او آمين لقب حاصل کړی وه ، دا مقام ورته د عظيم اخلاق او خائسته سلوک د وجې ميلاؤ شوی وه ، د هر يوه خه صفت تصور چې وکړی شي ، هغه صفت به په اعلی مرتبه باندې پدې نبي کښې موجود وی ، ناواقفه خلق ئې د

پيژندنی نه قاصر دی ، څوک ئې چې د خائسته تاريخ مطالعه وکړی هغه ته معلوم شی چې ستا مقام د رسولانو او مفکرين په صف اول کښې دی ،

ددی نه پس وائی : ستا مرتبه أوچته ده ، واضحه بيان واله ، حيران کونکی کاميابی ته حاصلی کړی دی، په تاريخ کښې داسی مصلح نه دی تير شوی چې په يو وخت ئې د روحونو اصلاح کړی وی او د خائسته اخلاقو مثال ئې قائم کړی وی او دومره لږ وخت کښې چې محمد ﷺ د اسلام نبی ته ميلاؤ شوی وه ،

روسی ناول نګار او مشهور فلاسفر تولستوئی( Leo Tolstoy Nikol) وائی: محمد ﷺ دپاره دا خبره د فخر ده ، هغه غُرځيدلی شوی او د يوبل د وينو تږی خلق د شيطان د بد عادتونو د پنجو نه نجات ورکړو او د هغوی مخکښې ته ئې د ترقی دروازی پرانستلی ، د محمد ﷺ راوړلی شوی شريعت به

د دنيا رهنمائی کوی ، ځکه چی دا د عقل او د حکمت عين مطابق دی ،

دآسټريا فلاسفر شبرک وائی : انسانيت په دی خبره باندی فخر کوی ، چه محمد ﷺ د انسانيت حصه ده ، حلانکی هغه خالص أُمی وه ، د هغی باوجود د پيړو مخکښې ئی داسی شريعت دنيا ته پيش کړی دی که مونږه د يورپ خلق په دی باندی عمل وکړو په دنيا کښې به د ټولو نه خوش قسمت وټاکلی شو،

**وبالله تعالی التوفيق**

## فهرست د نبي کريم ﷺ د ژوند مختصر حالات


| | |
|---|---|
| د عربو د جاهلیت دور | 3 |
| د دوه ذ بیحینو ځوی | 4 |
| د هتیانو واقعه | 6 |
| د رسول الله ﷺ پالنه او رضاعت | 8 |
| د شق الصدر واقعه | 10 |
| د مور او د نیکه وفات | 11 |
| تجارت او واده | 12 |
| نبوت | 14 |
| ښکاره تبلیغ | 17 |
| هبشوته هجرت | 20 |
| عجبه واقعه | 22 |
| د هر قسم تعلق پریکول | 22 |
| د غم کال | 24 |
| د طائف سفر | 25 |
| د سپوږمی دوه ټکړی کیدل | 26 |

| | |
|---|---|
| واقعه د معراج | 27 |
| د اسلام د دعوت نوی محاذ | 31 |
| د مدينې  هجرت | 35 |
| جنګ بدر | 36 |
| جنګ احد | 38 |
| جنګ خندق | 39 |
| فتح مکه | 40 |
| وفود راتلل او بادشاهانوته خطونه | 41 |
| دنبي کريمﷺ وفات | 42 |
| د رسول الله ﷺ حليه مبارکه | 43 |
| د رسول الله ﷺ اخلاق مبارک | 44 |
| د نبيﷺد سيرت نه اغستلئ شوی درسونه: | 50 |
| خوش طبعيتي | 50 |
| د ماشومانو سره د نبي ﷺ سلوک | 52 |
| د نبي ﷺ برتاؤ د خپل کوروالو سره | 53 |
| د رحمتونه باران | 54 |
| د نبي ﷺ د صبر مثال | 55 |

| | |
|---|---|
| زُهد د دنیا نه بے رغبتي | 61 |
| خوراک څښاک او لباس | 63 |
| د رسول الله ﷺ عدل او انصاف | 64 |
| د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل فکر رائې | 67 |
| فهرست د نبي کریم ﷺ د ژوند مختصر حالات | **74** |